د هغه د خوږ زړه د احساس ترجماني به څه وي
چې ځي د کوره مسافر سحر د نمر په څیره

پښتو
ډاټ نیټ
Pukhto.net

# د نمر په څیره

محمد الیاس ثاقبؔ

د نمر په څیره
محمد الیاس ثاقبؔ



شاعري که الهامي کېفیت نه وے
د دنیا خلق به واړه شاعران وو

هم دغه خبره ده کومه چې لائق زاده لائق په پوره‌تنې شعر کښې کړې ده، چې شاعري الهامي کېفیت دے او د لوئے اللّٰه ورکړه دی۔ ډېر کرانه د اسې اوشي چې بې تعلیمه او کم پوهه سړے وي، خو چې اللّٰه تعالیٰ ورله د شاعرۍ ملکه ورکړې وي د اسې شعر اووائي چې ډېر لوئے لوئے پوهان او فلسفیان نه یوائځې دا چې د هغې تصور نه شي کولے، بلکې هغې ته ګوته په خُله پاتې شي۔

محمد الیاس ثاقبؔ چې د تعلیم په میدان کښې ډېر وړاندې نه دے تلے، خو د شاعرۍ دا ملکه ورله اللّٰه تعالیٰ دومره په خلاص مټ ورکړې ده چې د خپل خوږ ترنم او مقصدي شاعرۍ په بنیاد ئې په لږ وخت کښې د نوموړي شاعرانو په صف کښې ځان ته مقام پیدا کړے دے۔ د ثاقبؔ صېب مجموعه ستاسو په وړاندې ده، زه دا طمع لرم چې د دې لږ لوستي شاعر په شاعرۍ کښې به ډېر د اسې مواد ستاسو مخې ته راشي چې د غور قابل به وي، او د ذوق تنده به هم سړوي۔ په دې هیله چې د ثاقبؔ صېب دا "د نمر په څیره" دې د پښتون قام دپاره د روښانه سباوُن زیرے شي۔

او په اخیر کښې د محمد الیاس ثاقب لپاره د محمد ابراهیم خان شیتمؔ دا شعر:

که بادشاه وي که ګدا وي په مرګ ورک شي
چې لیکلے ئې کتاب وي نه ورکیږي

ابراهیم دهولي سوات
Columnist, Writer: Current Affairs

ټول حقونه د شاعر سره خوندي دي

| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | د نمر په خيره |
| نوم: | محمد الياس ثاقب |
| انتخاب: | حېدر علي تائب ، شېر شاه ابشار |
| کمپوزنګ: | سعيد احمد انجم |
| پروف / نوی املا: | اتل افغان |
| ټائټل: | نقيب احمد جان |
| اهتمام / ډيزائن: | نقيب احمد جان |
| د چاپ کال: | 2012ء |
| شمېر: | 500 |
| بيعه: | 130 روپۍ |
| چاپ خانه: | مشرف پرنټنګ ايجنسي ، پېښور |
| خورؤنکی: | يوسفزی پښتو ادبي ټولنه |
| د ليکوال درک: | ديولۍ ، تحصيل کبل سوات<br>03425541711 ،03463835646 |

جان کتاب کور کبل سوات
نقيب احمد جان اينډ برادرز حاجي اقبال پلازه کبل سوات فون: 6961 951 345 92+
e-mail: naqibahmed@hotmail.com , naqibahmadjan@yahoo.com

# تړون

- د پښتون قام او پښتو ژبې په نوم ، چې زه ورسره ډېره مينه لرم
- د يوسفزي پښتو ادبي ټولنې په نوم ، چې زما شاعرۍ پکښې وده اوموندله
- د حاجي محمود خان محمود په نوم
- د خور ملګرى معراج الدين سنګين په نوم
- د خپلو درې وارو کشرانو رونړو : محمد يونس ، معاذ ، عبيد الله او خپل زوى نعمان احمد په نوم ، چې په ما ډېر ګران دى

---

محمد الياس ثاقب

pukhtoogle.net

# د ثاقب رڼا

ثاقب صېب د سوات د پولې اوسېدونکے دے زۀ ئې په حیثیت د یو شاعر ، ادیب د ډېرې مودې نه پېژنم. دا لیکوال خدائے پاک د سوات په جنت کښې کېدے شی په دې غرض پېدا کړے شوے وی چې د حورو سندرې جوړې کړی او دا سندرې د بلبل نما ګلو کارانو په ذریعه د دې جنت ارضی په ګوټ ګوټ کښې زمزمې شی او یو داسې اثر پېدا کړی چې اودۀ زړونه پرې راویښ شی بې خوده زړونه پرې په خود شی، بې احساسه زړونه پرې حساس شی، سخت زړونه پرې نرم شی، یخ زړونه پرې ګرم شی، بې انصافه زړونه پرې انصاف دار شی، بې مینې زړونه پرې د مینې نه ډک شی، حاسدان زړونه پرې د حسد نه تش شی، بې غېرته زړونه پرې غېرتیان شی الغرض د کومو زړونو نه چې د انسانیت پښتو ولې ده هغه ورته واپس ورننوځی. د دې نه علاوه به په سوات کښې د ثاقب صېب د پېدائش نور مقاصد هم وی خو هغه به خدائ ته معلوم وی.

اګر چې ثاقب بعضې وخت کښې د خپلو نېکو هلو ځلو نه مایوسه شی او خپلې هلې ځلې ورته شنډې ښکاره شی خو چونکه خدائ پاک هغه د یو نېک مقصد د تر سره کولو د پاره پېدا کړے دے نو دا خبره یقینی ده چې د ثاقب صېب هلې ځلې به ضرور رنګ راوړی د ثاقب صېب مایوسی هېڅ معنی نۀ لری هغه به هسې وائی چې.

دا زړۀ مې د وفا طمع کوی د بې وفا نه
نادان دے هسې کرښې په اوبو باندې راکاږی

د هر ذی روح او بې روح خېر او شر خپل یو حد لری. د دغه حد نه د یو ذی روح یا بې روح خېر یا شر بهر ته نۀ شی وتلے.

دغه وجه ده چې د خېر په خورولو کښې انسان له پکار ده چې د خپل نېک او سپېڅلی کردار په حواله مطمئین اوسی. په دې سره به د هغه په دغه نېک عمل کښې سستی نه راځی او په ښۀ مناسب رفتار به جاری وی. او که داسې نه وی یعنې داسې وی چې

منم ځلېږمه هر چا ته په نظر راځم خو
د اسمان ستورے یم تیارې زما د خوا نه نۀ ځی

نو بیا خو ښکاره خبره ده چې که ته ستورے ئې نو د ستوری مناسب رڼا به خورولے شی د دغه حد نه بهر ستا رڼا تیارې له شکست نۀ شی ورکولے. تۀ په دغه مطمئن اوسه او نمر ته مه پسخېږه او که ته داسې اوکړې د امید او اطمینان لمن پرې نۀ ږدې نو ته به د نورو د پاره یوه ښۀ نمونه هم شې لکه ثاقب صېب چې په یو ځائې کښې وائی

داسې قدم کېږده چې پرې بل ته لاره جوړه کړه

بل ته لار جوړول یعنی د بل احساس تخنول او بېدارول یو ښۀ عبادت دے. او دا یو ښۀ عبادت ځکه دے چې د ترقۍ او پر مختګ باعث دے. ترقی یافته معاشره هغه وی چې د احساس بېداری پکښې عامه وی. او د زړۀ سترګې ئې هاغه څۀ وینی کوم چې د ثاقب غوندې حساس خلقو ته په نظر راځی.

غربت او بې وسی مې زړګې هغه وخت زخمی کړی
خپل کورته چې په بېرته مسافر د ورایه ګوری

یاداسې

هلته زما د سر سودا کوی د غیرو سره
دلته چې راشی د غیرت او ننګ خبری کوی

یا دا ښکلې شعر
خدایه په خپل کور کښې ئې ورولې د یو بل سره
چې مې ساده اولس ته څوک د جنګ خبرې کوی

یا د ثاقب صیب دا ښائسته خیال ښائسته شعر
بعضو ملایانو ته والله که بخښانه اوکړم
دوئ زما د قام نه اکثر لار غلطه کړې ده

د ثاقب صیب شاعری زما په خیال د پښتو په ادب کښې د غوره ادب په صف کښې راځی. که ثاقب صیب د ادب ژوره مطالعه اوکړی خپله عملی پنګه زیاته کړی او خپلو ادبی هلو ځلو ته د اطمینان په نظر اوګوری نو امید لرم چې دا نوے زلمې کله پوخ عمر ته رسی نو د پښتو ادب یو پوخ عمارت به ئې سر ته رسولے وی.
الله پاک دې دې نوی د ادب اهل زلمی ته د اطمینان ، همت او حوصلې نه ډک دراز عمر نصیب کړی. امین

عبد الرحیم روغانے
۱۰جولائی ۲۰۱۲ء

پښتو
pukhto.net

## د پښـــــتوادب د اســــــمان (ثاقب)

د خیال په نیلۍ د جذبو زغل شاعری ده ، خو یو بل فلسفی وائی چې دا هاغه نغمه ده چې د جذبو په شهباز د حساس زړۀ د تارونو د چیړلو نه پورته کیږی خو تر ټولو دا خیال چې شاعری هاغه یخ شمال دے چې په خار او ګل یو شان اوری ، د غنائیت او معنویت په اړه غوره

ګڼل شوی د لوئے سختن په فضل د څه لپاسه پنځه زره کاله اګاهو نه په دېخوا په پښتنو دا شمال څه داسې اوری ، چې ګل ګل ئې کړل د یو شدېل بدېل پښتون په فولادی سینه کښې د ریښمو نه نرم زړۀ او په تصور د جمالیاتی حس غلبه ښکاره ثبوت دے چې د شعر سره بې کچه مینه ئې په ختمه کښې اغړل شوی ده. هم دا وجه ده چې د رامخې ته شوی پښتو ادب د وړمبی شاعرانو بیتې نیکه او امیر کروړ نه راواخله تر دې دمه د معاشرتی ارتقائی عمل سره او په اوګه سم د پښتو شعر پاټکی په پاټکی د ترقۍ په لور ختلے او ځان ئې منلے دے.

یا جنګیالی باچا سکندر اعظم د خپل ژوند د قیصې په کتاب (آټوبائې ګرافی) کښې لیکی چې زما پلار خاقان اعظم د دستور مطابق زما د پوهې لپاره یو اتالیق مامور کړے وو یو ورځ ما د هغه نه درس اخستلو چې زمونږ حجرې ته څه کسان راننوتل چې په رنګ سره سپین ، او په ونه لوړ وو لهجې ئې ډیرې تندې وې. زۀ ئې کسرتی وجودونو او سؤرلو ته حېران شوم زما اتالیق په ما پوهه شو او راته ئې اوئیل : دې خلقو ته پټهان وئیلې شی درنګه سره ځکه دی چې ډېر غصه ناک دی کسرتی وجودونه او په ونه لوړ ځکه دی چې د یقین د حده وتی جفا کش دی تنده لهجه ئې د تادی ګرندۍ نخښه ده او کومې سورلۍ چې ئې ګوته په خله کړی دی ، دې ته اس وئیلے شی او دا د د نیا یو قام دے چې د دې ځنګلی ځناور واګې ئې ټینګې کړی دی ګنې نو ستا پلار خاقان اعظم لا د دې په ملا ځان نۀ دے ټینګ کړے ستا په پلار پسې دې له راغلی دی چې د چا سر لوړی په ځان نۀ

منی او ورته مشوره ورکوی چې په هر لور ځه خو په پښتنو مۀ راخېژه ګنې نۀ به دې تخت پاتې شی او نۀ تاج ، ټپه نومې شیز د دې قام د مینې سندره هم ده او د جنګ ناغاره هم او چې کله ئې دا ناغاره پورته کړی ده نو چا ئې مخه نۀ ده نیولی۔

غرض مې د پښتو د تاریخ د دې پاڼې نه د دورې تېک وهلو دا وو چې په ګرده نړۍ کښې د پښتون قام په ځانګړی وصفونو کښې یو وصف د دۀ خوږه او اثر ناکه شاعری ده پښتون یواځې قام دے چې د تورې شرنګ او د ټوپک ډز ئې د خپلې شاعرۍ موسیقی ګڼلی ده او په انتهائی کړکېچنو وختونو کښې ئې هم په خپلو تراږو شونډو د ګل او د سپرلی سندرې وئیلی دی.

محمد الیاس ثاقب هم د شاعرانو د قافلې هاغه زلمې مل دے چې د خپل قام پرهر پرهر وجود ئې په خپله توده شاعرۍ ټکور کړے دے ، او د پښتونخوا ساندې ساندې چاپېر چل ئې د خپلې خوږې شاعرۍ سره سره د خپل خوږ اواز په زېر و بم په ګډا کړے دے زۀ د لیک د اوږدېدو له ویرې د ښاغلی د کلام د نمونو وړاندې کولو نه ډډه کوم خو دومره به اووایم چې ښاغلے په ساده باده او روان انداز کښې خپل فکر د پښتون قام د ذهن په ورشو د کرلو په هنر ښۀ پوهه دے ۔ سره د دې چې په زیات تر کلام ئې د جمالیاتی حس رنګینه شالونه او رومانی خیالونه خواره دی خو د خپلې ذمه وارۍ او د قام د خوارۍ نه هم بې غوره نۀ دے. د قام په بې خوکۍ او بې وسۍ دردمند او د ملی وحدت ئې ارزومند دے. ذاتی غرض ئې لاعلاجه مرض او

زر پرسته رهبر ئې قامي سوداګر بللې دے. د شعر هر يو تورے ئې د زرګر په تله داسې تللے او په جوهرئې داسې پيئلے دے چې د پښتو ادب غاړه ئې د يو نوى ډول په امېل سينګار کړى ده .د نيشت نيمګړتياوې باوجود په دې لړ کښې د ښاغلى هلې ځلې د داد وړ دى.

هم د ښاغلى منډه تړه وه چې د علاقې د ملګرو شاعرانو شريکه ټولګه د "يوسفزو ګلونه" چاپ شوه. پښتانه به ئې په دې زيار هم بايد چې ملا وټپوى او دخيال په نيلى زغل به ئې نور هم تند کړى. په دې باب له ګران لوستونکى زما څومره هم خيال دى دا به د محمد الياس ثاقب د کلام د لوستو نه پس پته لګى اوس درنه د ښاغلى ثاقب صيب په دې دوؤ شعرونو چې پښتون قام ته ئې پکښې د يو نوى رڼ سحر زيرے او د نن نه د کار اخستلو زورے ورکړے دے اجازه غواړم چې

قلم راپيدا کړے دے شعور په پښتنو کښې
اوس دور به د شر او دشاتار ځى دائې وخت دے
سباله به ارمان کوى خو وخت به ترينه تېر وى
که څوک د نېک عمل په سمه لار ځى دا ئې وخت دے

ستاسو د دعاګانو او پښتون قام د نيک مرغى په هيله!

مفتاح الدين خاکسار ستر سيکتر
کبل پښتو ادبى تړون کبل
نېټه: ۰۶-۰۸-۲۰۱۲ع

# د درد په نبض بانــدې ته پوهــېږې

چرته په نلکو کښې دې اوبه کلی ته را نهٔ شی
چرته دې منګے زما د یار د سر نه کوز نهٔ شی

دا داسې شعر دے چې خامخا به دې تصور ګودر ته راکاږی او د پښتنې اقدارو روایاتو او د غرونو د ګودرونو او چینو تصور به دې په زړهٔ کښې را ویښوی ـ د سوچه مینې او ساده کلی وال ژوند انځور به درته رامخې ته کوی او د پښتنې پېغلې د مشقت نه ډک ژوند او د منګی لاندې په پلؤ نیم کخے پټ مخ چې د محبوب د لیدو نهٔ بلکې د هغه د موجودګۍ په احساس پرې سرخی ځی راځی ، به درته را وړاندې کوی ـ

دا او د دې سره سره د بلها دا رنګې ښائسته ، پُر معنی او د خوندورو شعرونو خالق محمد الیاس ثاقب سره زما پېژند ګلو د درې ځلور کالو راسې ده ـ کله چې هم د ثاقب صیب نوے غزل اورم نو یو شعر دوه پکښې لازمی طور داسې راځی چې ما د ځان سره واخلی ـ د

ثاقب صیب شاعرۍ ته که د هغه د عمر او تعلیم په تناظر کښې و کتلے شي نو ډېره خوندوره او پخه ده ـ که هغه خپل دا سفر هم دغسې جاري وساتي ، نو هاغه ورځ لرې نهٔ ده چې هغه به د پښتو ژبې د ښو شاعرانو په صف کښې ځان له ځائے جوړ کړي.

نظم هم لیکي ، خو د ثاقب غزل ډېر خوندور دے ، رومانیت لري ، خواږه خواږه او لږ اوږده ردیفونه د هغه د غزل خوند زیاتوي ـ په هر غزل کښې یو شعر دوه داسې لیکي چې یا خو به دې د تلمیح په رسۍ په زمانو شا ته راکاږي او زاړه حقیقتونه او روایتونه به دې د نوي انداز بیان سره د زړهٔ تارونه وچېړي او یا خو به دې د قام په بې حسۍ ، د پښتون وګړي په بد قسمتۍ ، جهالت ، ناپوهۍ ، کم علمۍ ، او نورو کمزورو وژړوي ـ یا به درته په غیر محسوس انداز کښې د پند او نصیحت خبره کوي او یا به درته د کامیابۍ ، عروج ، ترقۍ ، پرمخ تګ ، روزولۍ ، امن ، سکون ، سوکالۍ او د پښتنې اقدارو روایاتو د پاللو لارې ګودرې سموي.

هم دغه وجه ده چې که یو طرف ته د ثاقب تور سکڼ شخصیت زما خوښ دے نو بل پله د هغه شاعري زما توجه ځان پله را اړوي ـ لوئے الله دې د دې ځوان شاعر په عمر او قلم برکت کړي او د پښتو او پښتون لپاره دې دهٔ له او د دهٔ قلم له اوږد ژوند ورکړي ـ آمین په ډېره مینه

نقیب احمد جان

نېټه : ۹ اکتوبر ۲۰۱۲ع

# چې په کتاب کښې دې خواږه پاتې شي

شعروئیل او لیکل ډیر ګران او زړۀ چاؤدے کار دے د هر تن د وس او توان کار نۀ دے الله پاک په خپلو خاصو بندیانو دا پیرزوینه کړې وی چې هغه په اسانه شاعری کولے شی او د اولس پام او فکر ځان ته را اړولے شی. څکه خو ارواښاد ایوب صابر صیب وئیلی وو چې:

لـه زړګی چې وینـه وڅڅوم بیـت شـي
زمانې زما نقصان تـه خـو خیـال وکـړه

یعنی شاعران ادیبان خپل ټول ژوند په هم دا فکر کښې وی چې څنګه به زما دا وطن وال د سیالو سره سیال شی څنګ به زما دا روڼه عزیزان یو شی څنګه به وږی تږی ماړه شی او لغړ وجودونه به پټ او په حیا عزت شی زما د مورنی ژبې حولۍ به څنګه له ناویاته ملغلرو ډکه شی او څنګه به دا د عدالت ،دفتر، حجرې، جمات ، بازار ولې او پټی ژبه شی.

هم د دغې کاروان او سوچه مکتب فکر یو غړے زما ملګرے زما یار محمد الیاس ثاقب صیب دے چې دا دے اوس خپله شاعری، د زړګی وینې تاسو ته د ،، نمر په خیره،، په نامه په کتابی ډول ډالۍ کوی.

محمد الیاس ثاقب صیب د سوات نیکپی خیل په زوړ او تاریخی کلی دیولۍ، دربار ډیرۍ کښې د محترم افرین خان کره

سترګې غړولې دي. د فروري شپاړسمه ۱۹۸۱ع ئې د زيږېدنې نيټه ده. د نيکه نوم ئې حافظ بخت بلند جان دے.

که څه هم مروجه رسمي تعليم ئې ډېر نۀ دے کړے خو الله پاک ورله ډېر ښۀ ذهن ورکړے دے د کتاب قلم سره ئې لږ ډېر تړون پاتې دے نو زۀ ئې د ځينو نه ښۀ ګڼم. څرخه مار ,,ټېلر،، دے خلقو له جامې ګنډي. د يوسفزي پښتو ادبي ټولنې ديولې د تماس نيولو سيکتر دے په خپله ادبي ټولنه کښې ورته هم د ځانګړي خدماتو په بدل کښې په درانه نظر او عزت کتلے شي.

هغه بل کال په ۲۰۱۰ع کښې ئې د خپلې ټولنې د ملګرو د شاعرۍ شريک کتاب (تذکره) "د يوسفزو ګلونه" د بل ملګرى حيدر علي تائب صيب په شريک زيار اوکړاؤ چاپ کړو چې لوستونکو ډېر زيات خوښ کړو.

د دې کتاب "د نمر په څيره" ډېره شاعري ما وخت په وخت اورېدلې او لوستلې ده ، ولې چې د ملګري سره مې ډېر راشه درشه دی ثاقب صيب د يو پښتون / افغان د وحدت قائل دے پښتون قام پرست دے . د الله تعالى د لوئے کلام قران مجيد حافظ دے نو په کلام کښې ئې ځائے په ځائے اسلامي حکمونو او پېښو ته په ډېر ښۀ ډول اشارې شته. مطلب دا چې په شاعرۍ کښې ئې وعظ نصيحت او تلميحاتي شعرونه هم دي.

په پټ پښتو پښتونولۍ مئين دا ملګرے پښتون افغان قوم ته د راپېښو ستونزو ، شخړو او کشالو نه ښۀ خبر دے په دې ويرژن هم

دے او خپلو خلقو ته خپلې قامی کمزورۍ او نیمګړتیاوې هم په ګوته کوی او دا هم ورښائی چې که یو شوئ ، پښتو مو درنه کړه ، د علم خاوندان شوئ ، نو دا ټولې کشالې به مو هوارې شی او هیڅ داسې زورور طاقت بیا مونږ ته په بدو سترګو نۀ شی کتلے.

زۀ دا هم په ښکاره لیکم چې د ثاقب صیب په شاعرۍ کښې فنی او هنری نیمګړتیاوې هم لیدے شی. خو ډیرې لږې لکه په ځینو ځایونو کښې د ردیف قید ئې د ژبې محاورې رومزې ماتې ګوډې کړی دی او د شعر خوند او زور ئې کم کړے دے.

زما یقین دے چې که ثاقب صیب د خپل شعر فن او هنر دا سفر دغسې روان وساتی نو پښتو ژبې او ادب ته به ډېر څه ورکړی. او مونږ به پرې په ځائے فخر کولے شو.

بیا د عزیز مانړوال لالا خبره که مونږ د ټیلیفون کارډ وانۀ خلو د سیګرټو ډبے خپر دے وانخلو د پښتو کتاب واخلو نو ډیره به ښۀ شی ولې چې دا غریبان ، بې وسه شاعران په خپلو کتابونو ډیرې روپۍ ولګوی کتاب ویړیا وویشی هیڅ څوک ئې او نۀ لولی .......

او بیا د هغه په پښتو ، پښتنو مئینو مشرانو او همزولو یو جهان مننه چې زمونږ په خواست ئې د دې کتاب د چاپ لپاره مالی مرسته کړی ده.

خدائے پاک دې د ثاقب صیب په فن او ژوند کښې برکت واچوی.

اتـــــل افغان

فیض خانه، شاه ډهیرۍ سوات

ثاقب صېب د پښتو ادب په زرخېزه زمکه کښې هغه بار داره ونه جوړه شوی ده چا چې په لږ وخت کښې خپل مقام حاصل کړے دے. په غزل کښې ئې د تلمیحاتو ، استعارو، تشبیهاتو او نورو اصنافو دانې ډېر په ښۀ ډول پیئلی شی. او دا ثابتوی چې د نن دور یو ښۀ شاعر دے ـ د قلم ژبه ئې ډېره اسانه او روانه ده ـ هم دغه وجه ده چې د اورېدونکو یا لوستونکو زړونو ته د خپل زړۀ خبره ډېره په اسانه کوزولے شی ـ ثاقب صېب د معاشرې په هر اړخ نظر ساتی الله پاک دې د ثاقب صېب د قلم دا ژبه تل خوږه او لوانده لری ـ چې په ادب مئین خلق ترې په خپلو جولو کښې څۀ نه څۀ یوسی. امین

په درناوی

شاکر یوسفزے

سینئر نائب صدر روښان ادبی جرګه (راج)

سعودی عرب جده: 00966501172613

شعر هر څوک وائی خو د زړهٔ د درد په رښتونی ټکو کښې عکاسی کول، یعنی هغه شعر چې اورمرو سړے کوم کېفیت اخستے وی ، او هم د دغې کیفیت د شعر په ژبه کښې ترجمانی اوشی دا به خامخا زړهٔ ته کوزیږی . اؤ اوریدونکی به هغه څه محسوسوی ، کوم کېفیت کښې چې شاعر شعر لیکلے وی نو زهٔ په دعوه سره دا وایم چې د ثاقب نوو تشبیهاتو او نا اشنا نااشنا ردیفونو د هر چا په زړهٔ کښې یو ځانګړے مقام جوړ کړے دے او د هغه د شاعرۍ مقبولیت د پورتنی صفتونو دلیل ورکوی . د اولس دغې بې حده داد دا کم عمره شاعر چې شاعری او عمر ئې برابر نهٔ دی. دې ځائے ته راورسولو، چې په لر او بر ئې په خلقو وپېژندو. او نن ئې شعری مجموعه ستاسو په لاس کښې ده۔ په پښتنه مینه

نسیم یوسفزے

صدر دوکتې پښتو ادبی کاروان سرسینۍ سوات

ثاقب صیب د ورکوټوالی نه ذهین محنتی او په پښتو ادب مئین دے
ځکه خو ثاقب صیب داسې شاعری کړی ده چې د ستائینې وړ ده.
ثاقب صیب خو د عمر په لحاظ کشر دے ولې شاعری ئې لوړ مقام
لری د خپلې ژورې شاعرۍ په وجه ثاقب صیب نن په ادبی حلقو کښې
په خپله د ادب ځلنده ستورے دے.

ثاقب صیب زمونږ د یوسفزۍ پښتو ادبی ټولنې وجود اهمه حصه ده
او زیات د ذمه وارۍ کارونه د ثاقب صیب په ذمه دی. هسې خو د
ټولنې د رابطه سیکرټری په عهده کار کوی. خو د ټولنې نور بوج هم
ثاقب صیب په خپلو اوګو وړی.

دټولنې هر ملګری له ډېر عزت ورکوی. ځکه خو ثاقب صیب
په خپله ډېر درونند او عزت مند انسان دے. د ذهن لمن ئې ارته ده
حوصله ئې ځوانه ده په قلم کښې ئې د لیکلو طاقت شته زما د عاده
چې الله دې د ثاقب صیب ذهن نور هم فراخه کړی چې نوی نسل او
پښتون قام ته مثال پاتې شی. امین

ډاکټر اکبر زیب مجذوب
صدر یوسفزۍ پښتو ادبی ټولنه دیولۍ سوات

هر کله چې ګران ملګری محمد الیاس ثاقب صیب ماته د ګرځنده د لارې دا خبر راکړو چې زما په کتاب د نمر په څیره یو څو کرښې اولیکه نو زۀ په ډېر ژور سوچ کښې پریوتم چې د دومره ښۀ شخصیت مالک او ستر شاعر د شخصیت او فن احاطه په یو څو کرښو کښې کول خو ډېر ګران کار دے. خو زۀ خیر.....زۀ به صرف دومره اوایم چې ثاقب صیب که یو خوا د ښو اخلاقو او دروند خوئ څښتن دے نو بل خوا ئې شاعری هم د اعلی پائې ده. ثاقب صیب همیشه د نوی ردیفونو په تلاش کښې وی او هر کله چې ورته نوے ردیف میلاؤ شی نو د دغې ردیف په مرسته د خپلو احساساتو او جذباتو سره سره د خپل چاپېریال قام او وطن ستونزې د شعر په خوږه ژبه داسې په هنرمندۍ بیان کړی چې هر چا ته د خپل زړۀ اواز ښکاری. او بیا چې دغو شعرونو له په محفل کښې د اواز ښکلا ورکړی نو سړے ورته حق حېران پاتې شی.

په ډېر درنښت او پښتنه مینه

سلیم سروال

نائب صدر یوسفزۍ پښتو ادبی ټولنه دیولۍ

زۀ به صرف دومره اووایم چې ثاقب صېب د پښتو ادب په دنیا کښې هغه ځلنده ستورے دے چې د څه مودې راسې د پښتو د ادب خدمت کوی الله پاک ئې په قلم کښې داسې خواږه اینبی دی. چې څه ئې د پښتو ادب له د شاعرۍ په ژبه ورکړی دی. نو هم دغسې ئې د خپل فن او هنر په طاقت خپل اشعار د ډیرو خلقو په زړونو کښې ځائے کړی دی. د وجود نه دومره غټ کټ نۀ دے خو الله ورله د پوهې خزانه ورکړی ده. نو ځکه خو داسې ښکاری لکه په هر کلام ئې مشک او عنبر نچوړ وی. نورې خبرې غزول نۀ غواړم خو الله دې اوکړی چې د ثاقب صېب قلم د وطن په دې تېژن ماحول کښې همېشه داسې په غورځنګ وی لکه څنګ چې د صفا مروا په مېنځ کښې د اب زم زم چینه په غورځنګ ده. امین

په درناوی

ریحان سواتی نائب صدر پښتو ادبی ملګری (پام)

سعودی عرب (ریاض) 00966560925979

محمد الياس ثاقب صېب زمونږ د يوسفزئ پښتو ادبي ټولنې هغه روښان او ځلنده ستورے دے چې د ده په رڼا باندې زمونږ دا ټولنه ټوله روښانه او ښائسته ښکاري په عمر کښې د ټولنې د زياتو ملګرو نه کشر دے په خپل خوږ اواز او خوږې شاعرئ ئې په ټولنه کښې ځانله يو ښۀ مقام جوړ کړے دے ثاقب صېب په دې مصروفه ژوند کښې هم د پښتو د ادب د پرمخ تګ ډيرې هلې ځلې کوي. هر ځائے چې مشاعره وي يا تنقيدي پروګرام وي په ډيره مينه او خلوص باندې په هغې کښې شرکت کوي او دا خواهش لري چې د ټولنې ټول ملګري د هغوئ سره يو ځائے شرکت وکړي. زۀ خپلې خبرې په دې ځائے راغونډومه او دا دعا کوم چې د ثاقب صېب دا هلې ځلې دې الله پاک د پښتو ادب د ترقئ لپاره يوه نيکه ذريعه اوګرځوي. امين

په ډيره مينه

سردار عالم ساتر

جنرل سيکرټري يوسفزئ پښتو ادبي ټولنه

ثاقب او پښتو يو بل سره داسې دي لکه انسان سره خپل سېورے د اوبو سره شور، او د نمر سره رڼا د ثاقب په شاعرۍ کښې هغه ټول رنګونه شته کوم چې د يو شاعر په شاعرۍ کښې پکار وي. د نوي کول دا زلمے شاعر په استعارو او تشبيهاتو ښۀ پوره او کوټلے ليک کوي الله دې ثاقب له نور هم توان ورکړي چې پښتو ادب له ډېر څۀ ورکړي. امين

په مننه

شېرشاه ابشار

پريس سيکرټري

يوسفزۍ پښتو ادبي ټولنه ديولۍ

زۀ تر خپله د ثاقب صېب د کلام ستاینه کوم ځکه چې ثاقب صېب په هر اړخ لیکل کوی او ښۀ پاخه لیکل کوی. ټکی د أمروزه ژوند د وینا نه اخلی. مینه هم پیژنی او د چاپېریال د ستونزو نه هم سترګی نۀ اړوی. د زړۀ پورې کلام او نوي ردیفونو ماهر دے. د الله نه ئې په دنیا او اخرت دواړو ښاد او بریالے غواړم.

ډاکټر سلیمان فدا ګالوچ
نائب جنرل سیکرټری
یوسفزی، پښتو ادبی ټولنه

د ثاقب صېب د ادبی ژوند هلې ځلې دومره ډېرې دی چې د هغې احاطه کول زما د وس کار نۀ دے. خو په لنډه به دا اووايم چې د خوږې لهجې د دې ښائسته شاعر د ژوند قيمتی لس دولس کلونه زما سره په يو دکان کښې تېرشول تيک ده چې ثاقب صېب زما نه جامې جوړول (ټېلرى) زده کړى. خو ما ترې هم په ادبی لړ کښې بلها زده کړه اوکړه. هيله مند يم چې دا زده کړه به ما ته په راتلونکی وخت کښې ښې ښې لارې اوښائی زما دعا ده چې الله پاک دې د ثاقب صېب په ژوند او قلم کښې برکت واچوی چې پښتو ژبې او پښتون اولس ته ترې فائده اورسی. امين

په درناوی
حيدر علی تائب
ديولۍ سوات

زۀ بـه د ثاقـب صـیب پـه حقلـه دومـره اووایـم نـن چې پـه چاپېرچل کښې کوم رنګونه دی هغه واړه ثاقـب د خپـل شعر پـه لمن کښې رانغښتی دی دا خاص کر زمونږ د پاره نۀ بلکې د ټولو پښـتنو د پـاره د اعـزاز خبـره ده چې خپـل ژونـد ئې ادب تـه وربخښلے دے او په لږ عمر کښې ئې پښتو ژبې له ډېر څه ورکړی دی.

په ډېره مینه او مننه
سید علی شاه سعید
فنانس سیکرټری
یوسفزی ټولنه دیولۍ

## مـــنـنـې او یـــادونـــې

ګرانو مینه والو نن که زما کتاب د نمر په څیره ستاسو په لاس کښې دے نو دا زما د ګرانو ملګرو شاکریوسفزی، او ریحان سواتی د بیا بیا وینا نتیجه ده. هغوئ زۀ دې خبرې ته بار بار پارولے یم چې خپل کتاب چاپ کړه. زما د کتاب چاپولو توان نۀ وو ، ډیرې مالی کمزورۍ مې وې خو د ډېرو په پښتنو او پښتو مئینو د مالی مرستې له برکته دا کتاب چاپ شو زۀ د هغې ملګرو نومونه لیکل غواړم. مظفر الملک کاکی خان(MNA) ، وقار احمد خان (MPA)، رحمت علی خان (MPA) ، خان نواب (مرکزی سیکرټریANP) خورشېد علی خان ، ظاهر خان دیولی،

ذهین خان، شوکت ناظم ، ابراهیم دیولۍ، ظفر علی، نسیم واجد تور دادا شاه ډهیرۍ، اتل افغان، فضل معبود عابد شاه ډهیرۍ، احسان الله سیال ، افتخار خان (ناظم) ،ناصر نسیم، پروین احمد ناتوان ، دیدار افریدی ، کوټے کبل، اکبر او د یوسفزۍ ادبی ټولنې د ملګرو معراج الدین سنګین، محمودخان محمود حاجی صیب، اکبر زیب مجذوب صیب، سلیم سروال، امان الله امان ، سردار عالم ساتر، سلیمان فدا، شیر شاه ابشار، سید علی شاه سعید، حیدر علی تائب او اشتیاق احرار هم ډیره مننه.

او بیا د سعودی عرب د مسافرو ملګرو په خصوصی توګه شکریه ادا کؤم د شاکر یوسفزۍ ، رسول خان،حبیب الله،سمیع الله،ریاض علی،ریحان سواتی، روزی خان ناز، نصیب تنها او اسرار احمد اسرار هم ډیره شکریه ادا کوم.

او په کتاب د لیکلو لپاره د عبد الرحیم روغانی صیب، مفتاح الدین خاکسارصیب، نقیب احمد جان، ابراهیم دیولۍ او نورو ټولو ملګرو ډیره شکریه ادا کوم.

په ډیره مینه

محمد الیاس ثاقب

دیولۍ سوات

طرف د کامیابۍ راته راښایه زما خدایه
بنده یم ستا په سمه لار مې بیا یه زما خدایه

دا نمر، سپوږمۍ او ستوري که دا کاڼي بوټي غرونه
هر څهٔ کښې دې خدائي ښکاري د ورایه زما خدایه

بې حده ګنهګار یم معافي لتا نه غواړم
غفلت کښې عمر تیر مې کړو بې ځایه زما خدایه

ستا خدائے دے په خپل نوم اخستو ستا نه خوشحالیږی
ثاقبه په هر وخت کښې ورته وایه زما خدایه

زلفې تار تار په ډېر سنګار ئې حسن دار جوړ کړو
غنی غفار چې سپین رخسار زما د یار جوړ کړو

خوږه دلبره د زړۀ سره عرش ته بره لاړې
سم د ختو چې فرشتو درته قطار جوړ کړو
ادم غنم اوخوړ جنت نه هغه دم راکوز شو
خدائے دا جهان ورته مکان ځائې د قرار جوړ کړو
نمرود ذلیل چې بې دلیل اور ته خلیل اوغورځو
پروردګار ورته انګار ګلې ګلزار جوړ کړو
موسی اوبه چې په امسا باندې رسا اوهلې
رب په شتاب ورته دریاب لکه د لار جوړ کړو
د بت مذهب، لهو لعب ابو لهب تباه کړو
تړۀ د سردار خپل بد کردار قابل د نار جوړ کړو
نور د اسلام تک تور غلام ته کوم مقام ملګرو
دا وو بلال قیمتی لال مې ترې دلدار جوړ کړو

خوا ته حبیب که کړو قریب چرته ثاقب ملګرو
دا سود د یار که ګرد غبار ئې د پېزار جوړ کړو

## غزل

داسې خوبونه چې د سترګو مې بوځئ مه راځئ
د یار غمونه نور زما د خوا نه ځئ مه راځئ

د ستمګر جانان لمبه لمبه یادونو ورک شئ
زړهٔ په ما نهٔ سیزئ خو زړهٔ راله سیزئ مه راځئ

د بې وسۍ پنجو کښې ګېرو مسافر یارانو
هلته کښې کېښنئ په تلاش کښې د روزۍ مه راځئ

په مودو پس ئې څانګې شنې شولې ګلونه سپړی
سپېرو بادونو په ګلشن د یوسفزۍ مه راځئ

زما د قام د ننګ تاریخ اغیارو ښهٔ اولولئ
کړئ ارادې خپلې بدلې که راځئ مه راځئ

پلار مې په کور نشته د رونو مې صلاح نهٔ راځی
ویل ئې نور زمونږ کوڅې له په عرضۍ مه راځئ

لږ د وصال په خوند او رنګ باندې ثاقب پوهه کړئ
اے د هجران ترخو وختونو په تیزۍ مه راځئ

pukhto.net

## غزل

زۀ چې ستا خورو ویښتو له غوټې ورکووم
نمر ښکاره کؤوم تیارو له غوټې ورکووم

نور مې په زړګی کښې روغ ځائے نشته د پرهر
ستا سترګو تېرو ښو له غوټې ورکؤوم

تۀ ئې چې د وصل شپه کړې تېره په ګیلو
زۀ یم چې ګیلو مانو له غوټې ورکؤوم

غوارم چې یو بل سره یو ځائے وی جدا نۀ
خپلو کښې پښتون، پښتو له غوټې ورکؤوم

تۀ مې د زړې شړې څوندی نوی کوه
زۀ به ستا د شال ریخو له غوټۍ ورکؤوم

یاره هر سبا د بل سبا په انتظار
ستا اومو اومو وعدو له غوټې ورکؤوم

زۀ څومره ساده یمه ثاقبه چې حق وایم
ځان پسې د دار رسو له غوټې ورکؤوم

ukhto.net

## غزل

ګلې چې مئين دې ګام په ګام په اور کښې نۀ سوزي
اور د هجر مړ کړه چې مدام په اور کښې نۀ سوزي

زۀ ئې ټوله شپه د انتظار په اور کښې سوزمه
يار کوی خوبونه په ارام په اور کښې نۀ سوزي

خدايه دا يوه دعا د امن مې قبوله کړه
نور دې په چاودنو زما قام په اور کښې نۀ سوزي

پرېږده چې دا ستا د حسن شمع راته بله وی
ژوند چې د پتنګ نۀ وی تمام په اور کښې نۀ سوزي

ټول خلق چاپېره دی ولاړ دی تماشې کوی
ناست دے ابراهيم عليه السلام په اور کښې نۀ سوزي

اوس رالويه شوی ده تنور لمبه کولے شی
اوس ترينه ډوډی، غرمه ماښام په اور کښې نۀ سوزي

ستا ثاقب په خپل زړګی کښې ستا مينه ځائې کړی ده
ستا د ثاقب زړۀ د انتقام په اور کښې نۀ سوزي

پښتو
pukhto.net

وخت مې د لاسو نه راکاږې په لاسونو لمن
خو پرې به نۀ ږدمه زه ستا د امیدونو لمن

ستا تصور راسره مل د ژوند په لاره چې وی
خېر که ساتم د لیونو غوندې د غرونو لمن

وعدې خو ډېرې دی یوه پکښې رینښتیا کړه راشه
دومره فراخه ګورے نۀ ده د وختونو لمن

د قسمت سترګو کښې خښې دی اوځی ترې کله
که پسې ډېره کړم راټوله په غاښونو لمن

خدایه دا څۀ راسره اوکړل د دې دهر خلقو
ما خو به ډېره بچ ساتله د داغونو لمن

چې د ازغو د تېرو څوکو نه ورتېر شې کله
هله به ډکه کړې ثاقبه د ګلونو لمن

pukhto.net

څنګه د خیال او تصور نه مخ د یار اوباسم
څنګه د یار په کاڼی زړۀ کښې ځانله لار اوباسم

بې ستا د یاد په دوړېدلی زړۀ کښې پاتې څۀ دی
اوځی ترې کله که توبې ترې په بار بار اوباسم

هوښیاران وائی په سختۍ پسې راحت وی مدام
په دغه ډاډ ترخې لمحې د انتظار اوباسم

د زړۀ حرم دې د بتانو خالی کړے نۀ دے
څنګ په دُرشل دې د زړۀ او دریږم پېزار اوباسم

مینه چې راشی نفرتونه لار د تېښتې ګوری
په مینه مینه ستا د خلې نه به اقرار اوباسم

هجرانه ما ثاقب خو لږ ساه اخستو ته پرېږده
په خوشحالۍ چې دا یو څو ورځې د شمار اوباسم

په خیال کښې ګرځمه خیالات لټووم
څه نوی نوی معلومات لټووم

چې پرې غزل د خوشحالۍ اولیکم
ځانله څه دا رنګې حالات لټووم

چې ښو ته ښه بد و ته بد رسوی
داسې عادله شخصیات لټووم

چې شپه په ورځ او ورځ په شپه بدلوی
زه تابعدار د هغه ذات لټووم

چې وو په تا کښې اوس په چا کښې نشته
که دې په خلقو کښې صفات لټووم

ثاقب سکون د زړګی نه مومه
که همه واړه کائنات لټووم

په سر د شوندو چې اهونه ساړه نۀ ختمیږی
دا خو مو تن ته لګیدلی لګړه نۀ ختمیږی

د غم ژورې خپله تنده ماتوې لګیا دی
ملګرو څنګه به مو وینه د زړۀ نۀ ختمیږی

مونږه په خپله ظالمان یو په ځان ظلم کؤو
ځکه د وخت د ظالمانو پېږه نۀ ختمیږی

راځئ چې یو شو په یو والی به خپل ځان اوګټو
بې د یو والي نه زمونږه رېږه نۀ ختمیږی

اوده ملګرو د ځایونو نه خو اوخوزیږئ
په ناسته ناسته خو منزل ته کړه نۀ ختمیږی

باران د وصل په ثاقب باندې را اوروه
په ترمو اوښکو خو د هجر سوکړه نۀ ختمیږی

ستا غم مې لاس تړلې په ازغو باندې راکاږي
سکون مې د زړګی نه په حملو باندې راکاږي

په خپل حسن مغرورې دا دې څهٔ قاتل نظر دے
زړګے مې د ګوګله په بڼو باندې راکاږي

نصیب چرته کښېښې سپورے د وصال په ما اونهٔ کړو
مدام مې د هجران په سرو غرمو باندې راکاږي

یوه ارزو زما ئې زلمیتوب ته پاتې نهٔ کړه
چاره مې په یوه یوه ارزو باندې راکاږي

دا زړهٔ مې د وفا طمع کوی د بې وفا نه
نادان دے هسې کرښې په اوبو باندې راکاږي

ژوندے چې زهٔ ثاقب ووم هیڅ احساس ورسره نهٔ وو
اوس شوندې مې د قبر په خازو باندې راکاږي

## غزل

ستا د یادونو قافلې زما د خوا نه نۀ ځی
د هجر توري شپې زما د خوا نه نۀ ځی

چې دې زما په وړاندې نوم د چا د خلې نه اوځی
بیا ډېرې ورځې تلوسې زما د خوا نه نۀ ځی

منم ځلېږمه هر چا ته په نظر راځم خو
د اسمان ستورے یم تیارې زما د خوا نه نۀ ځی

زۀ یو پښتون یمه یاران هم پښتانه دی زما
اغیاره مۀ وهه نعرې زما د خوا نه نۀ ځی

غم خو هر چا له ځی منمه خو چې ما له راشی
بیا تیروی ډېرې مودې زما د خوا نه نۀ ځی

زۀ یو انسان یمه خامۍ به خامخا لرمه
قام ته مې وایه چې په دې زما د خوا نه نۀ ځی

ثاقب که ډېر ترینه خپل زړۀ راتولوم ملګرو
بیا هم فکرونه د هغې زما د خوا نه نۀ ځی

pukhto.net

## غزل

که ډېر ورپسې اوکړم ارمانونه په لاسونو
ارمان چې را به نۀ شي تېر وختونه په لاسونو

زما د ورکوټوالي هغه ورځې نۀ هېرېږي
لیکل چې به مونږ یو بل له نومونه په لاسونو

هوا د مغربي تهذیب چلیږي رابیدار شه
بېرغ د پښتو اونیسه پښتونه په لاسونو

دا هم د چا دکور ده هئ افسوس د چا به خور وي
له ورایه چې کوي اشارتونه په لاسونو

اوس هر وختې د خلې مې دعاګانې ورته خیژي
د چا نه چې خوړل مې ګوزارونه په لاسونو

وئیل ئې ستا پولې پولې لاسونه راته یاد شي
اوباسم په نکریزو چې ګلونه په لاسونو

هر رنګ د محبت زما ثاقب به درمعلوم شي
ګل رنګې تۀ مې کېږدوه لاسونه په لاسونو

pukhto.net

## غزل

په مینه مینه خوږ نظر سحر د نمر په څیره
په ما دبره کړی اختر سحر د نمر په څیره

ما وې اظهار ورته کړوم ژبه مې نه خوزېده
مخې له راغې چې دلبر سحر د نمر په څیره

دهغه د خوږ زړۀ د احساس ترجمانی به څۀ وی
چې ځی د کوره مسافر سحر د نمر په څیره

زما د سوات د هر یو غر منظر کشی اوګورئ
ښومره مزه کوی نختر سحر د نمر په څیره

راته وئیل ئې نن تېره تېره سیلۍ چلیږی
د کوره مۀ اوځه بهر سحر د نمر په څیره

لکه د ګل په پاڼو پرخه زرغونه زرغونه
داسې دې ښکاری سپین بشر سحر د نمر په څیره

ثاقبه بیا ئی سترګې تورې کړې بانه ئې نېغ کړل
بیا مې شو زړۀ پرهر پرهر سحر د نمر په څیره

په خیال کښې مې رڼا رڼا کېده خو تیاره نهٔ تله
سیلۍ د امېدونو چلېده خو تیاره نهٔ تله

وریځې ګورې ګورې د حالاتو پرې خورې وې
سپوږمۍ که مې په خوا کښې اوسېده خو تیاره نهٔ تله

ستا یاد دی تا چې زلفې وې په ما راخورې کړې
رڼا ستا د رخسار به مې لېده خو تیاره نهٔ تله

راځئ چې بل مثال کړو چې ورک قام مو په لار راشي
دا چغه به مونږ ډېره اورېده خو تیاره نهٔ تله

ما وې سبا د وصل به د هجر شپه کړي ختمه
ډیوه د انتظار به بلېده خو تیاره نهٔ تله

ثاقبه تنهائي وه هغه هلته او زهٔ دلته
ځلا که ئې د مخ رایادېده خو تیاره نهٔ تله

## غزل

ما چې په لور ستا د بشر لار غلطه کړې ده
تا رانه د ژوند د سفر لار غلطه کړې ده

ګلونه ورته اوشیندئ د کلي په کوڅو کښې
ډېره موده پس مې دلبر لار غلطه کړې ده

بعضو ملايانو ته والله که بخښنانه اوکړم
دوئ زما د قام نه اکثر لار غلطه کړې ده

نور کله ئې دومره خواره نۀ دي راکتلي خو
نن ئې چرته هسې نظر لار غلطه کړې ده

اے پښتنو ځان ته رښا اوکړئ تياري ورکې کړئ
اودرېږئ نور مۀ ځئ رهبر لار غلطه کړې ده

تش منګے په سر زمونږ د چم لارو کښې څۀ ګورې
نن دې جوړې بيا د ګودر لار غلطه کړې ده

باور پرې د سبا د راتلو مۀ کوه ثاقبه
لوظ ئې د شونډو په سر لار غلطه کړې ده

Pukhto.net

منم چې ستا هرې خبرې نه غزل جوړیږي
خو په نصیب به مې دا ستا سره محفل جوړیږي

تا ته خو ګل وئیل هم ستا توهین د حسن ګڼم
ستا د ښائست سره ښائست چرته د ګل جوړیږي

زۀ چې څۀ خورم لګي پیکه دستونې ښکته نۀ ځي
خواږه یادونه دې زما مرۍ ته ول جوړیږي

بېلتون پرې کړي بمباري ده ګټې لوټې پروت دے
هاغه شان کله اوس زما د زړۀ کابل جوړیږي

دا ستا په زړۀ کښې پوټے ځائے هم ما د پاره نشته
زما په زړۀ کښې ستا د پاره شیش محل جوړیږي

ثاقب دنیا ستا په سر پرېښوه تا ثاقب پرېښودو
اووایه څوک به ئې د ژوند د لارې مل جوړیږي

عشــق دې الــزام کــړو راپغــاړه د انعــام نــه وروســتو
بــې ارامــې ئــې رالــه راکــړه د ارام نــه وروســتو

تــا تــه د نمــر غونــدې د شــپې د تیــارو څــۀ پتــه ده
زمــونږ پــه کــور خــو چرتــه راشــه د ماښــام نــه وروســتو »

پښــتنو ويښ شــۍ نــور قامونــه مــخ پــه وړانــدې لاړل
مزل کښې نشته د ے هيڅ څوک زمونږ د قام نه وروستو

ukhto.net

یــارانو بــس پــه دې پــوه خبــره پــاتې راځــو
اغــاز لــه ســوچ شــروع کــوو خــو د انجــام نــه وروســتو

اے د هجــران ترخــو وختونــو ســاه مــې وړۍ ولــې نــۀ
د ژونــد مــزه مــې پــاتې نــه ده د ګلفــام نــه وروســتو

چــې دې د زړۀ پــه خوښــه لاړ د عاشــقۍ واغســته
ثاقبــه خــوره اوس تندکونــه د هــر ګــام نــه وروســتو

» ترجمه

## غزل

ګلرنګــــه تــــرۍ شــــوی وچــــه خلــــه ده او روژه ده
اے خدایــــه لاخــــو ورځ تږولــــه پرتــــه ده او روژه ده

دا څوک د ے چې په سرو غرمو د خان پتهی کښې لؤ کړی
دا څــوک د ے چــې ئــې مــلا تږولــه لمــده ده او روژه ده

مالــــدار د خوراکونــــو انتخــــاب کــــولے نــــهٔ شــــی
پــــه کــــور کښــــې د غریــــب انګیتهــــۍ مــــړه ده او روژه ده

رانجــــه شــــته نــــهٔ نکرېــــزې اختــــر لــــرې د ے جانانــــه
ســــره ســــره د ښــــار هــــره کوڅــــهٔ ده او روژه ده

pukhto.net

د بــــدر پــــه مېــــدان درې ســــوه دیــــارلس صــــحابه دی
غــــزا کیــــږی ګرمــــی ده ســــره غرمــــه ده او روژه ده

هغــــې شــــوګیر وهلــــی ایلــــه اوس ســــترګې کــــړې پتهــــې
هغــــه پېشــــمنے نــــهٔ کــــوی اودهٔ ده او روژه ده

غتهــــان بــــه پــــه لتهــــون د خوشــــحالو کښــــې وی ثاقبــــه
زمــــونږه د خوارانــــو خــــو روژه ده او روژه ده

چې د حالاتو په سور اور دې خنداګانې سوزي
څکه په زړهٔ کښې مې دننه ارزوګانې سوزي

په سوزېدو د زړګي نهٔ یم خو په دې ویره ده
پکښې محبوبې ستا معصومې اداګانې سوزي

خلق چې ژاړي ژړاګانې ورله سترګې سیزي
زما په سترګو کښې جانانه ژړاګانې سوزي

خلې له راځي خو قبلېدو د پاره بره نهٔ ځي
په سر د شونډو مې ملګرو دعاګانې سوزي

دا د هجران توري تیارې دې دومره مهٔ خوروه
په دې تیارو د وصال سپینې رڼاګانې سوزي

ګلرنګې لاس د محبت دې ما ثاقب له راکړه
په محبت د نفرتونو بلاګانې سوزي

لیک چې پرې ازغی دی ګل د کومه راپیدا کړم
دې کوټه تقدیر له حل د کومه راپیدا کړم

هیڅ څوک د وفا په لاره تګ راسره نهٔ کړی
خپل سترې ژوندون له مل د کومه راپیدا کړم

تهٔ چې ما ته وائې چې دا زړهٔ دې ما له راکړه
یو زړهٔ خو تا وړے بل د کومه راپیدا کړم

ساه مې د منزل په لوری لنده لنده کیږی
کندې دی تیارې دی زغل د کومه راپیدا کړم

هیڅ څوک داسې نشته چې دې غم راسره نیم کړی
خپل مې هم پردی شو خپل د کومه راپیدا کړم

اے زما ثاقب پرهر زړګیه وایه
تا له زهٔ دارو درمل د کومه راپیدا کړم

## غزل

اول د سختو مرحلو نه به خپل قام اړوم
لالیه بیا به هله ستا لوري ته پام اړوم

ما ته د قام مینه نعرې وهی پامال ئې کړمه
په دې حالاتو کښې به څهٔ نظر په بام اړوم

اوس مې د چا د خمارو سترګو خمار واخستو
اوس ساقی څهٔ کووم پیاله اړووم جام اړوم

ستا سره لوظ مې د مینې محبت کړے دے
زه هاغه نهٔ یم چې د لوظ نه به ګام اړوم

لا د اسلافو کتابونو نه فارغ نهٔ یم
دغه سبق د زندګۍ سحر ماښام اړوم

ګلرنګې دا مې انتها د محبت اوګڼه
او به د صبر چې په اور د انتقام اړوم

ثاقبه تېر ژوندون کښې ما کوم یو ارام ولیدو
چې پس له دې به لاوختونه په ارام اړوم

چا ته د زړۀ د پاسه بار د بې وسۍ غوټه کړې
د نصیب ویش د ے چاته ډېرې خوشحالۍ غوټه کړې

دا ګورې زلفې دې رښا رانه د مخ پټوې
مور ته دې وایه چې دې زلفو کښې کمځۍ غوټه کړې

دا رقیبان زما او ستا مېنځ کښې تضاد راولي
خبره سمه وی خو دوئ پورې لکۍ غوټه کړې

زما د کلي زمېندار ساده باده پښتانۀ
سحر پټۍ ته ځي په پیځکي کښې ډوډۍ غوټه کړې

راځئ چې یو شو پښتنو یارانو داسې یو شو
لکه لوهار چې د زنځېر کړۍ کړۍ غوټه کړې

ثاقب خو ستا د محبت په نامه ژوند کوؤمه
خو انتظار دې د راتلو راله مرۍ غوټه کړې

دنیا کښې چې د حسن ئې مثال نۀ پېدا کیږی
رهبر هغه مثال کړه بل مثال نۀ پېدا کیږی

که مونږه تذکرې د محبت چرته شروع کړې
نو بیا به د نفرت غوندې وبال نۀ پېدا کیږی

د شین په ځائې ئې سین وې خو د چا د سترګو تور وو
اوس ټوله دنیا چاڼ کړه خو بلال نۀ پېدا کیږی

پښتو
pukhto.net

رازق خو دې الله دے ځان هغه ته حواله کړه
د لوږې به څنګ مړشې دا خو سوال نۀ پېدا کیږی

رېښتیا که مونږ رسی د اتفاق د ځان نه تاؤ کړه
په مونږ د راختو د چا مجال نۀ پېدا کیږی

ثاقبه چې رحمان غوندې بابا ورپکښې تېر دے
نو څنګه په پښتنو کښې به لیکوال نۀ پېدا کیږی

کله غمونه شي دیوال د خوشحالۍ مخې ته
کله د ژوند په لاره راشي بې وسۍ مخې ته

راځه چې ځو د دې وطن نه بېخي کډه نغاړو
خبر دے که هر څۀ را پېښېږي لېونۍ مخې ته

چې توري زلفې دې په سپین رخسار لپاسه راشي
لکه چې ګوره وریځ راشي د سپوږمۍ مخې ته

چا چې زمونږه ختمول د ژوند مقصد ګڼلے
مونږ هغه خلقو ته نیولي دي جولۍ مخې ته

اے شاعرانو ادیبانو نور څوک نشته ګورے
مونږه به بیا یو خپله ژبه مورنۍ مخې ته

یو خوا د هجر توري شپې بل شوګیرې ثاقبه
په ګرېوانه مې اوښکې ځي لړۍ لړۍ مخې ته

ukhto.net

ټوله شپه ئې کړې دے شوګیر په خوب اوده دے
نصیب کښې ئې ژړا وه په ډېر ویر په خوب اوده دے

خوا له دې د خپل لیونی ورشه تماشه اوکړه
پروت دے په سینه ئې ستا تصویر په خوب اوده دے

دلته کښې په چا کښې د احساس هډو ماده نشته
دلته کښې د هر سړی ضمیر په خوب اوده دے

د یو نیکه اولاد دے دواړه یو شان انسانان دی
غریب ورله څوکۍ کوی امیر په خوب اوده دے

د خوبه چې راویښ شو نو تعبیر به د خوب اوباسو
چې مونږ په خوب اوده یو نو تعبیر په خوب اوده دے

ثاقبه د تدبیر په لار مو ایښے قدم نۀ دے
هسې وهو چغې چې تقدیر په خوب اوده دے

زما ساده زړګې د ځانه زورور جوړوی
چې د قاتل قاتل نظر سره نظر جوړوی

یارانو څنګ ورته اظهار د محبت اوکړمه
هغه خو ما سره په نهٔ خبره شر جوړوی

مونږ هاغه قام یو سپینه ورځ مو په ځان توره شپه کړه
خلق د تورې تورې شپې نه سپین سحر جوړوی

چې پښتنه پېغله سر توره چرته اووینمه
دا مې د خوږ زړهٔ په پرهر باندې پرهر جوړوی

لاتخیل مې د خیالونو خالی شوے نهٔ دے
لاتصور مې تصویرونه د دلبر جوړوی

ثاقبه څهٔ خو وئیل غواړی خو وئیلے نهٔ شی
ګوره لفظونه چې د سرو شونډو په سر جوړوی

pukhto.net

زۀ هاغه نۀ یم چې په حسن او صورت پسې ځم
یم لېونے د محبت په محبت پسې ځم

چا چې د خپل زړګی په کور کښې ما له ځائے کړے دے
زۀ ئې هم نۀ شم هېرولے هر ساعت پسې ځم

د چا مانړۍ او دولتونو باندې څۀ کوؤمه
په ښۀ اخلاقو او په ښۀ انسانیت پسې ځم

هغه چې څۀ اوکړل دنیا ده نو بس ښۀ ئې اوکړل
یوې ګیلې له به په ورځې د قیامت ، پسې ځم

د چا د خلې په تش ګفتار باندې زۀ نۀ غولېږم
چې ئې کردار ښۀ وی په داسې شخصیت پسې ځم

ثاقب وفا ګورمه ، مینه او خلوص ګورمه
سوالګرے نۀ یم چې د تشې خُلې په ست پسې ځم

pukhto.net

تا که نظر د محبت راته په بام کړے دے
ما درته هم په سترګو سترګو کښې سلام کړے دے

بیا دې خال برېښنې بیا دې سترګو له لکۍ کړې دی
بیا دې زما د قتلولو انتظام کړے دے

چا چې زمونږه د سرونو سوداګانې کړې
مونږه مدام د داسې خلقو احترام کړے دے

دا په اسمان کښې رڼاګانې د شفق خورې دی
کنه سینګار دې په سکنې ماښام کړے دے

چې د چا یاد لکه د سیورې مې په خوا کښې ګرځی
هغې زما د ارزوګانو قتلِ عام کړے دے

ثاقبه قام که مې په هر څۀ نظر ګوری ورته
د ژوند کتاب له مې تړون په نوم د قام کړے دے

Pukhto.net

## غزل

چې د ضمیر ژوندی ساتلو په چل نهٔ پوهیږی
هغه د ژوند د تېرولو په چل نهٔ پوهیږی

اولس مې هره ژبه زده کړه خو افسوس په دې دے
د پښتو ژبې د لوستلو په چل نهٔ پوهیږی

ستا لېونے ګورے څهٔ داسې لېونے خو نهٔ دے
چې ستا د حسن د ستائیلو په چل نهٔ پوهیږی

یارانو منمه زما د زړهٔ نه نهٔ اوځی خو
هغه مې هم د هېرولو په چل نهٔ پوهیږی

زما دقام پښتني پېغلې ترقی چې اوکړه
اوس د څادر پسرولو په چل نهٔ پوهیږی

هغه بانه په سلائی تېره کړی خون مې اخلی
هغه د سترګو تورولو په چل نهٔ پوهیږی

ثاقب که ډېر څهٔ وئیل غواړی خو چې تا له راشی
لا لیه بیا د څهٔ وئیلو په چل نهٔ پوهیږی

pukhto.net

ستا د امید بلې ډیوې ختمې شوې
د ارمانونو لاس نیوې ختمې شوې

تورو تیارو کښې د هجران پاتې شوم
چې ستا د مخ هغه جلوې ختمې شوې

ستا فراقت مې سترګې اوچې کړلې
خومره چې اوښکې پکښې وې ختمې شوې

هر څۀ چې اوکړل خپل نصیب مې اوکړل
اوس په بیلتون باندې دعوې ختمې شوې

زاهده ما چې پکښې نۀ منې تۀ
جنت شو تنګ او که میوې ختمې شوې

غاړه ئې ما ثاقب ته کیښودله
چې د ناصح سره فتوې ختمې شوې

پښتو
pukhto.net

پېښېږي که د غم دي د بيمار د سر نه کوز نۀ شي
مړ به شي اشنا که ئې دا بار د سر نه کوز نۀ شي

ډېره تسلي که زړۀ له ستا د راتللو ورکړمه
بيا به مې هم سترګې انتظار د سر نه کوز نۀ شي

تا چې شيربانو مينه د ښکاره غوښوله راوسته
اوس به يوسف روغ د کړمار د سر نه کوز نۀ شي

تل به د غربت لوګو وهلي داسې تور ګرځو
ستا به خزانې چرته ښامار د سر نه کوز نۀ شي

چرته په نلکو کښې دې اوبه کلي ته را نۀ شي
چرته دې منګې زما د يار د سر نه کوز نۀ شي

ته ئې چې ما اووينې د بام د سر نه منډه کړې
ستا هغه ثاقب خو به د دار د سر نه کوز نۀ شي

Pukhto.net

تــه کــه بــې وفــا ئــې خــو وفــا زمــا پــه زړۀ کښــې ده
تــا لــه خــو د مینــې یــو دنیــا زمــا پــه زړۀ کښــې ده

پېښــه دې او نــۀ کــړه هــدې هــودې پکښــې تېــرې شــوې
ســتا هغــه وعــده لاد ســبا زمــا پــه زړۀ کښــې ده

خدائے خبر چې بیا چرتــه ارمــان پکښــې ســلګۍ اوکړې
نــن خــو لاڅــۀ بــل شــانې غوغــا زمــا پــه زړۀ کښــې ده

بحــث د محبــت کــوئ ملګــرو نــور څــۀ مــۀ وایــئ
هــیڅ نشــته بــس دغــه یــو ســودا زمــا پــه زړۀ کښــې ده

وصــل دې بــاران کــړه امېدونــه جــل وهلــی شــو
جــوړه ګــورے ســمه کــربلا زمــا پــه زړۀ کښــې ده

اووایــه ثاقــب پــه کــوم ادا دې غــزل ولــیکم
ســتا خــو لیــونۍ هــره ادا زمــا پــه زړۀ کښــې ده

پښتو
pukhto.net

کاواک نظر زما په لور لګوي اور لګوي
سمې لمبې د زړۀ په کور لګوي اور لګوي

سترګې ئې تورې کړې په زلفو کښې ئې لار جوړه کړه
خال په جبین د پاسه تور لګوي اور لګوي

دا د بارودو تېهکدار دا د هېواد دښمنان
نعرې د امن وهي شور لګوي اور لګوي

pukhto.net

یارانو ژمے دے یخنی ده بل د هجر شپه ده
نن خو چې څومره باران زور لګوي اور لګوي

رخسار ئې سره بخری نولی چې ګودر ته درومي
څوک پرې سیزی په چا ټکور لګوي اور لګوي

لامې احساس ستی پولی پولی ثاقبه
حالات داغونه په ما نور لګوي اور لګوي

زۀ یواځې نۀ یم چې مې ځان په سر راخستے دے
حسن دې دلبره ټول جهان په سر راخستے دے

خود تنهۍ تنهۍ ریښې ریښې او تار په تار به وی
تړمو تړمو اوښکو مې ګرېوان په سر راخستے دے

زۀ خو دې دنیا ته حق حېران ګوته په خله یمه
چا نه خفګان تښتی څوک خفګان په سر راخستے دے

لړ د لېونی تپوس دې اوکړه کنه مړ به شی
چغې وهی بیا ئی بیابان په سر راخستے دے

څنګ به په دې حال کښې د سپرلی سندرې اووایو
باغ د پښتو نخوا راله خزان په سر راخستے دے

ستا هغه ثاقب چې به مدام دا ستا په خوا کښې وو
اوس د یو نظر لېدو ارمان په سر راخستے دے

خوا له مې راشي کښيني څنګ په څنګ خبرې کوي
هغه ګلرنګه ده د ګل په رنګ خبرې کوي

حالات ئې ما د يو نظر ليدو ته هم نۀ پريږدي
زړۀ لېونے راته د سور پالنګ خبرې کوي

هلته زما د سر سودا کوي د غيرو سره
دلته چې راشي د غيرت او ننګ خبرې کوي

خدايه په خپل کور کښې ئې ور ولې د يو بل سره
چې مې ساده اولس ته څوک د جنګ خبرې کوي

غر په خله نۀ کوي همزولي په ځان نۀ خبروي
هغه ګودر کښې د بنګړو په شړنګ خبرې کوي

ثاقبه خال په زنه کېږدي سترګې هم توري کړي
ائين ته اودريږي په خوند او رنګ خبرې کوي

pukhto.net

په کور د تخیل کښې مې خیالونه خطا کیږي
امید امید کووم خو امیدونه خطا کیږي

دا بعضې خلق وائی غم خطا شی په چا راشی
دا هره ورځ ملګرو جو غمونه خطا کیږي

ناصح وائی دروغ مخامخ شوے ورته نۀ دے
د ښکلو نه به هم لاد چا زړونه خطا کیږي

زۀ وایم اقرار کومه خو چې وخت د اقرار راشی
د شونډو په سرونو مې لفظونه خطا کیږي

دا څۀ ازغنه لار د عاشقۍ ده خدائے دې خیر کړی
له ورایه مې منزل ته قدمونه خطا کیږي

ثاقبه د هجران د ورځو شپو به څۀ حساب کړم
زما نه حسابونه کتابونه خطا کیږي

pukhto.net

لیک چې په نصیب دے د خفګان سره څۀ نۀ کیږی
بې ستا د وصاله د هجران سره څۀ نۀ کیږی

تار د تورو زلفو ترې چاپېره کړه راتهول به شی
نور مې د ریښې ریښې ګرېوان سره څۀ نۀ کیږی

دا که جوړ د غوښې وے څۀ لار به پکښې وتی وه
پوهه شوم چې ستا د زړۀ سندان سره څۀ نۀ کیږی

ما له ئې جنون د انتها مقام ته اورسوو
چا وې چې په عشق کښې دانسان سره څۀ نۀ کیږی

اوشی پرې باران د ترمو اوښکو د فراق په شپه
بیا مې هم د زړۀ د ګلستان سره څۀ نۀ کیږی

منم چې ئې کور د زړګی تاله لوټې لوټې کړو
اوسی دې ثاقبه د ارمان سره څۀ نۀ کیږی

ګوتې ئې يخې کړې يخنۍ په کوټه واورې توږی
ګوره لګيا ده لبونۍ په کوټه واورې توږی

کچه کوټه ده د برګو لاتدې څڅو بے کيږی
د غرونو کور دے غرڅنۍ په کوټه واورې توږی

مالدار د واورو وربدلو نه خوندونه اخلی
غريب په ډيره بې چېنۍ په کوټه واورې توږی

د دې يتيمې رور هم نشته چې انچور ترې واخلی
ډير د وختې نه دا جينۍ په کوټه واورې توږی

ما د خپل چم نه پسې بره چم ته منډې کړلې
چا راته اووئيل فلانۍ په کوټه واورې توږی

زړۀ مې پرې خوږ شولو ثاقبه يو سپين ږيرے بوډا
د هاغې پورې ودانۍ په کوټه واورې توږی

## غزل

چې مې په خله باندې ناڅاپه نو د یار واخستو
شونډو ټکور واخستو زړۀ مې ترې قرار واخستو

بیا دې یادونه سندریز شولو د زړۀ حجره کښې
بیا مې په لاسو کښې ستا غم لکه ستار واخستو

ستا ترقي ته به دنیا ګوته په خله پاتې شي
پښتو نه تا که د دې خپل عقل نه کار واخستو

څۀ خوشحالي او کامیابي به چرته بیا نۀ مومي
چا چې په ژوند د مور او پلار د زړۀ ازار واخستو

ساقي د جام او د پیالې ضرورت پاتې نۀ شو
ما اوس د چا د خمارو سترګو خمار واخستو

زۀ به دې مړ راژوندے کړے ووم په دومره وخت کښې
دا څومره وخت چې دې ائین ته په سینګار واخستو

نور د وفا کوم یو دلیل درله ثاقب درکړمه
د ژوندون هر یو ساه مې ستا په انتظار واخستو

pukhto.net

## غزل

هغه چې په قاتل نظر د ورایه ګوري
خالي ځائې مې په زړۀ کښې د پرهر د ورایه ګوري

کتلې ورته نۀ شم زما سترګې ورته برېښي
دا نمر د ورایه ګوري که دلبر د ورایه ګوري

یارانو دا دلیل د محبت ئې راسره دے
هاغه ده د پورې بام په سر د ورایه ګوري

مونږ خپلو کښې د یو بل ګرېوانونه تار په تار کړل
اغیار په تماشه دي زمونږ شر د ورایه ګوري

غربت او بې وسي مې زړګې هغه وخت زخمي کړي
خپل کور ته چې په بېرته مسافر د ورایه ګوري

هغه به کوم ساعت وي چې زما څنګ له به راشي
سحر د ورایه ګوري مازیګر د ورایه ګوري

د ګل غوندې رنګونه د سپرلي پرې راخواره دي
رخسار ته ئې ثاقب څکه اکثر د ورایه ګوري

## غزل

خال دې په تندی کېږده اوربل ته لاره جوړه کړه
دواړه سترګې توري کړه غزل ته لاره جوړه کړه

ما وئیل فرهاد غوندې په غرۀ کښې لار کولے شم
لاس ئې په زړۀ کېښود وې ئې دلته لاره جوړه کړه

نور زما اولس په ګډو وډو لارو مه بوځه
ښۀ منزل پیدا کړه او مزل ته لاره جوړه کړه

شېخه د خلوت په کوډګۍ کښې جنت مه ګوره
داسې قدم کېږده چې پرې بل ته لاره جوړه کړه

زلفې دې رسۍ کړه او بانړه دې تېرې توري کړه
دار ته لاره جوړه کړه مقتل ته لاره جوړه کړه

اوس خو به زما نه وروستو ستا په مرۍ غلے شی
چا درته وئیل چې کور کښې غل ته لاره جوړه کړه

بس کړه د وهمونو د دنیا نه ثاقب اوباسه
بیا ئې د خیالونو شیش محل ته لاره جوړه کړه

pukhto.net

نظر مې ستړے شو او دریږی نۀ لا منډې وهی
احساس د مینې مې په لور د اشنا منډې وهی

نن مسلمان د یو ګناه نه هم مخ نۀ اړوی
چې زلزله شی وار خطا وار خطا منډې وهی

څوک چې دنیا نه تښتی دا دنیا هم زغلی پسې
چې دنیا غواړی د هغو نه دنیا منډې وهی

د چا لمبه لمبه رخسار ئې راله او نۀ سیزی
زړۀ لېونے مې د اورونو په خوا منډې وهی

خلق په وړاندې وړاندې ځی منزل ته لار لنډوی
زما اولس د خپل منزل نه په شا منډې وهی

د تورې شپې توره تیاره ده څوک خپل ځان نۀ وینی
ثاقب په خپله کوی ځان ته رڼا منډې وهی

## غزل

زړۀ مې نصیب تقدیر ته ګوري ژاړي
نۀ ورځي خوب شوګیر ته ګوري ژاړي

ستا لېونے دے په ځان نۀ پوهیږي
چې ستا د مخ تاثیر ته ګوري ژاړي

څنګ ئې ستاینه د خندا اوکړمه
هغه چې ما فقیر ته ګوري ژاړي

یوسف خپل خوب بیانوی لګیا دے
یعقوب د خوب تعبیر ته ګوري ژاړي

اوس ئې په کاڼی زړۀ کښې لار شوی ده
اوس چې زما تصویر ته ګوري ژاړي

څوک قران لولی د ثواب د پاره
څوک ئې معنی تفسیر ته ګوري ژاړي

ثاقب په دومره شور ما شور دور کښې
د قام اوده ضمیر ته ګوري ژاړي

pukhto.net

## غزل

هر څوک په خوشحاليانو باندې سر شي چې اختر شي
زما زړۀ لېونے اوتر اوتر شي چې اختر شي

د ښار ګرمئ وهلے تنده غرے تنده غرے
را ياد مې د خپل کلي يخ ګودر شي چې اختر شي

څوک څۀ او څوک به څۀ د خپل ارمان تله کښې تلي
زما خو مخې مخې ته دلبر شي چې اختر شي

د مور په دواړه مخه ښکلول راته را ياد شي
دا زړۀ مې په والله پرهر پرهر شي چې اختر شي

بس دغه تلوسه مې د زړۀ غم له دوام ورکړي
ټوټې ټوټې به زړۀ د مسافر شي چې اختر شي

وئيل ئې ځم خو ځمه خو کمے به مې محسوس کړې
زما ارمان به هله تا له در شي چې اختر شي

قربان د کليوالې زندګئ شمه ثاقبه
ټول خلق د يو بل په حال خبر شي چې اختر شي

Pukhto.net

## غزل

ژوند که مې د هجر د لمبې نه بهر نۀ اوځی
خیال مې ستا د خیال د دائرې نه بهر نۀ اوځی

هر چا ته خبره ډېره په ښۀ انداز کولے شم
یار ته بس اظهار زما د خلې نه بهر نۀ اوځی

اے د مغربی تهذیب پیرانو په دې پوهه شئ
پېغله پښتنه د دروازې نه بهر نۀ اوځی

ګل چې یې په پانو کښې د حسن تماشې کوی
زړۀ به پسې څنګه د سینې نه بهر نۀ اوځی

دا خو مشرکان ئې دلته نۀ پرېږدی نو څکه ځی
هسې خو حضور مې د مکې نه بهر نۀ اوځی

وئیل ئې چرته راشه چې په زلفو کښې دې پټ کړمه
تا ته دا ماران د اجازې نه بهر نۀ اوځی

ستا ثاقب رڼا کوی شغلې کوی ګلرنګې خو
ستورے د اسمان دے د تیارې نه بهر نۀ اوځی

د حسن عجیبه غوندې دوران وو په هغې
زما کله پېرزو غم او خفگان وو په هغې

تېرې د ښو ستنې او اوږدې زلفې تارونه
راتول به مې ریښې ریښې گرېوان وو په هغې

اوس څۀ گورې سپېرلے زما په ښار زړۀ کښې ملگرو
دا زړۀ که گلستان وو گلستان وو په هغې

وصال که د تقدیر په داډ زما مرسته کولے
دا وران د مینې کور به مې ودان وو په هغې

دا زړۀ به مې هر وخت لکه فرهاد حوصله مندوو
په ځان ئې پرواه نۀ وه خو قربان وو په هغې

ثاقب ته داسې مه گورئ ثاقب خو داسې نۀ وو
هر چا ته که هر څۀ وو خو ډېر گران وو په هغې

جامې د رنګه تورې په سر شال د رنګه تور
ایښلے دې په غونډه زنه خال د رنګه تور

د ښار د سپین لباس خلق مې زړۀ ته نه پرېوځی
ساده ګوجر مې خوښ دی کلیوال د رنګه تور

وئیل ئې مسافر لالیه خپل وطن ته راشه
زما درپسې شولو سپین جمال د رنګه تور

سپین رنګ ابو لهب ته نفع نۀ ده رسولی
کمال ته رسېدلے وو بلال د رنګه تور

د امن په نوم جنګ دے د باردو سرې لمبې دی
لوګو کړو د وطن هر یو دیوال د رنګه تور

تر اوسه دې ثاقب هغه د لاس نخښۀ ساتمه
ګل کړے چې تا ماله وو رومال د رنګه تور

## غزل

په انتظار انتظار ترمې اوښکې
څاڅي زما په رخسار ترمې اوښکې

لکه داني د هار په یو بل پسې
دي ملغلرې قطار ترمې اوښکې

په خپله هر یو غم ته غاړه ږدمه
زغملې نهٔ شم دیار ترمې اوښکې

د چا چې کور د مینې اونړیږی
شي په دنیا ئې روزګار ترمې اوښکې

چا درته څهٔ اووې په څهٔ خفه شوې
دا ستا په سترګو کښې زار ترمې اوښکې

ځنګ سترګې تورې کړمه خال کیږدمه
خرابوې مې سینګار ترمې اوښکې

ستا په ژړا ثاقب ژوندے به نهٔ شي
که ئې څڅے» په مزار ترمې اوښکې

» څڅوې

زما ارمان زما په زړۀ د پاسه خله ایښی ده
پوهیږی نۀ چې ئې په څۀ د پاسه خله ایښی ده

شیخ زۀ پرون منع کړلم چې شراب او نۀ څښې
نن ئې په خپله په کاسهٔ د پاسه خله ایښی ده

دا تۀ چې ما قلاروې د یار د سرو شونډو نه
ناصحه تا کله په خله د پاسه خله ایښی ده

پښتو
pukhto.net

څوک مو د امن په نوم زېلې پرې کوی لګیا دی
چا د وطن په خزانه د پاسه خله ایښی ده

پرون چې تا پکښې کتل او خپل سینګار دې کوو
نن ما په هغه ائینه د پاسه خله ایښی ده

زۀ چې ژوندے ووم تا په ما ثاقب زړۀ نۀ سیزلو
اوس دې د قبر په خازه د پاسه خله ایښی ده

تا زړۀ رانه راتلول کړو زما زړۀ نۀ راتلیږی
جانانه بې له تا یوه لحظه نۀ راتلیږی

اوس هم چې دې زۀ نوم د چا د خلې نه چرته واورم
په زړۀ کښې مې د هر وخت د پرهر خله نۀ راتلیږی

سیلۍ ته د مغرب پښتنې پېغلې حیا ډال کړه
چې ستا د سر نه ستې ته لوپټه نۀ راتلیږی

مات شوے زړۀ مې نۀ جوړیږی اوس په اداګانو
نادانه ماته شوی ائینه نۀ راتلیږی

څوک یو خوا ځی څوک بل خوا ځی لار ښود ورسره نشته
په دې وجه یو ځائے ته پښتانه نۀ راتلیږی

اوس هاغه د خوند ورځې تیرې شوی دی ثاقبه
اوس جونه مازیګر په تناره نۀ راتلیږی

د غم د اوره پاڅه ساه واخله
پرهر پرهر احساسه ساه واخله

زما اشنا په خاموشۍ نهٔ کیږی
د خلې نه غږ اوباسه ساه واخله

اوده پښتونه سترګې اوغړوه
مزل کوه راپاڅه ساه واخله

چرته هغه چرته سپېږه په مخ
خدایه زما د لاسه ساه واخله

ناصحه خپل غم باروومه په تا
بیا تهٔ د دې دپاسه ساه واخله

د هر ارمان سره ځان مه قتلوه
د ثاقب زړهٔ حساسه ساه واخله

pukhto.net

## غزل

توري تیارې ښهٔ دی جانانه رڼا مه راوله
د هجر شپه دی وی د وصل سبا مه راوله

ګلې چې ستا بې رحمه زړهٔ ته پرې سکون رسیږی
زما د خیال په تصویرونو کښې ساه مه راوله

مونږ پښتانه امن پرست یو مونږ شر نهٔ خوښوو
اغیاره دلته د جنګونو هوا مه راوله

د خوشحالۍ مطالبه جانانه نهٔ کوومه
د رب دپاره نور غمونه په ما مه راوله

رېباره ښهٔ شوه چې انکار ئې د یارۍ نه اوکړو
بس په دې ځائے خبره پرېږده ژړا مه راوله

قاتلې سترګې دې قاتلې لږ په پام غړوه
خپل لېونی له دې بې وخته قضا مه راوله

پرېږده ثاقب چې ترمې اوښکې ئې بهیږی په مخ
تهٔ دې په کانی کانی زړهٔ کښې وفا مه راوله

## غزل

ګیلې مانې دی پرېږدوه پخلا شه چرته راشه
زما د درد پېدلی زړۀ دوا شه چرته راشه

تر څو به د راتلو وعدې کوې دروغ به خیژی
اشنا یوه وعده کښې خو رېښتیا شه چرته راشه

د خوار غریب اولس په حال واکداره ځان خبر کړه
د خپلو خوشحالو نه راجدا شه چرته راشه

ما وې حالات مې نۀ پرېږدی چې درشمه ګلرنګې
وئیل ئې مسافره په هوا شه چرته راشه

تر څو په یو موګی باندې به شل ځله غورځیږي
اے عقله د دې قام مې لږ خبر خوا شه چرته راشه

زۀ هره ورځې ځان خطا کووم دلته راځمه
ته هم زما په شانتی راخطا شه چرته راشه

د زړۀ پرهر مې وینه کوی درد کوی ثاقبه
مرهم شه ټکور راوړه مسیحا شه چرته راشه

## غزل

ورک شو سکون او اطمینان د ژوند په نیمه لار کښې
زما نه پاتې شو جانان د ژوند په نیمه لار کښې

هغه د ګل یوه غوټۍ وه لا ګل شوی نهٔ وه
چې رانه یوړله خزان د ژوند په نیمه لار کښې

څنګه دې پرېښودمه څنګ دې رانه زړهٔ صبر کړو
یاران خو نهٔ پرېږدی یاران د ژوند په نیمه لار کښې

پښتونه هاغه دے منزل حوصله مه غورځوه
پرېوځه مه ستړے ستومان د ژوند په نیمه لار کښې

د نصیب زور د بېلتانه چاری منی اوکه نهٔ؟
تهٔ حق حېران زهٔ حق حېران د ژوند په نیمه لار کښې

پخې وعدې د خپلې خلې جانانه یادې لره
زما نه مه راکاږه ځان د ژوند په نیمه لار کښې

ستا بې رخۍ ګوره ثاقب په داسې حال کړم اشنا
ما ته مې اوژړل ارمان د ژوند په نیمه لار کښې

## غزل

نن بیا ولګیدو د ژمی سر باران وریږی
کړو ما ته ئې رایاد زما دلبر باران وریږی

تهٔ ورشه د غریب د کور برګې ورستې شوې څاڅی
اے خانه ستا پرې څهٔ ستا په لښتهر باران وریږی

توده د نغری غاړه ئې پرېښوده رخصت شو
او ځی د خپله کوره مسافر باران وریږی

دا ستا د لواندو زلفو نه چې څاڅکې ښکته کیږی
ښکاریږی لکه مخې ته د نمر باران وریږی

پښتو
pukhto.net

زما د سوات موسم څهٔ عجیبه غوندې موسم دے
د شپې ښهٔ شین اسمان وی خو سحر باران وریږی

نن مور راته وئیل زویه یخنی به دې راواخلی
بهر ته چې او نهٔ اوځې بهر باران وریږی

په اوښکو ترې تنې تولې پریوتی دی ثاقبه
ګریوان ته مې د سترګو نه اکثر باران وریږی

ما کړې وو جانانه انتظار د پسرلی
خو شکر دے اوس خدائے راوستو وار د پسرلی

خزانه نور د خدائے په خاطر لرې شه د مخې
تر څو به دې نیولی وی دا لار د پسرلی

ښائسته شولې غوټۍ دې د ځوانۍ ګلونه سپړی
زرغون دی شو رنګونه په رخسار د پسرلی

ادا د مستو جونو بل اختر په ګودرونو
وی زیړ مازیګر څومره مزیدار د پسرلی

زما خو ئې خیالونه او فکرونه رنګینه کړل
خمار دې دے د سترګو که خمار د پسرلی

وئیل ئې ښکلا ګانې دی ثاقبه سوات ته راشه
لا پاتې دی یو څو ورځې په شمار د پسرلی

## غزل

داسې يو بشر مې په کمال ملګرے کړے دے
خدائے ورسره حسن او جمال ملګرے کړے دے

ستا خو تشې سترګې تورول د سرې خون اخلی
نن دې لاد زنې سره خال ملګرے کړے دے

دلته کښې چې څوک چرته زمونږه مشر شوے دے
ځان ئې د اغيار سره په مال ملګرے کړے دے

تا له پرې لږ سپک منګے جوړوم چې ئې ګودر ته وړې
دې غرض د پاره مې کولال ملګرے کړے دے

اوس به د غزل په جوړولو کښې وخت نۀ لګی
ستا تصوير زما سره يو خيال ملګرے کړے دے

نور به د بارودو د لوګو په تيارو نۀ درومی
علم د پښتون سره مشال ملګرے کړے دے

اووايه ثاقب درله ګلرنګې څۀ در اوليږم
خدائے راسره ستاسو کليوال ملګرے کړے دے

pukhto.net

ځان مې شو بې ځانه د منډۀ په جې
او نهٔ چوې ارمانه د منډۀ په جې

خط چې مې ریبار ورته نن اولوستو
شنه شوه د خندا نه د منډۀ په جې

ټوله شپه په ستورو کښې تا ګورمه
ناست یمه پریشانه د منډۀ په جې

ستا څاڅکي زما اوښکو ته نهٔ رسي
مه څاڅه بارانه د منډۀ په جې

اونیوله غېږۀ د رخصتۍ په وخت
اودرېده حېرانه د منډۀ په جې

لاړ مه ثاقب د بل وطن په لور
پاتې شوه زما نه د منډۀ په جې

pukhto.net

هغه چې راخواره کړی تور زلفان لکه ماران
ښکاریږی په رخسار ئې اوېزان لکه ماران

دا زړۀ به زما ولې داسې وینې وینې نۀ وی
لګیا دی پرې غمونه د جانان لکه ماران

زما وطن به څنګه ترقی اوکړی یارانو
پراته په خزانه دی مشران لکه ماران

یارو داسې دم اووایه چې ستړګې ئې ړندې شی
تاویږی مې د یار نه رقیبان لکه ماران

حېران ګوته په خله یمه دا څنګه زمانه شوه
ټکونه راکوی بعضې یاران لکه ماران

ثاقبه خلوص لاړو مینه لاړه وفا لاړه
بس یو بل ته ګواښیږی انسانان لکه ماران

pukhto.net

## غزل

زړهٔ کښې مې څړیکه شی دردونه مې پرهر راواخلی
چې خپل بچې چرته په غیر کښې مسافر راواخلی

ستا د یادونو قافلې ورته دننه راشی
زما د زړهٔ د ارمانونو کور په سر راواخلی

بیا د وطن واکدار مو تلې دې په غیرو پسې
خپل سر له امن غواړی مونږ له به تری شر راواخلی

وئیل ئې شپه دې په ګیلو مانو کښې تیره کړه
دا دې ملان به اوس بانګونه د سحر راواخلی

مونږ ته زمونږ منزل نعرې وهی چې دلته یمه
داسې څوک شته چې قدمونه برابر راواخلی

هغه به څوک وی چې په لار د کنعان پښه اوکړی
چې د کوهی نه د یوسف غوندې بشر راواخلی

ثاقبه نور په چا اعتبار به د سالار نهٔ کؤو
که څوک په یو لاس کښې سپوږمۍ په بل کښې نمر راواخلی

pukhto.net

اوږدې زلفې د یار په سپین جمال د پاسه زانګی
جبین ئې پناه کړې دے په خال د پاسه زانګی

زړګیه د جانان په پوزه خیال دې دے پېزوان ته
دا څومره په سرو شونډو په کمال د پاسه زانګی

حیرانه ورته ناسته حلیمه د ورایه ګوری
زانګو د خپله ځانه په خپل حال د پاسه زانګی

دا څنګه پښتنه ده چې په سر ئې څادر نشته
بس هسې په اوږو ئې نرے شال د پاسه زانګی

وعده چې ئې کوله ماښامے وو دغه ځائے وو
دا څانګه د کدو چې په دېوال د پاسه زانګی

همزولو ته صفت مې د غزل کوی ثاقبه
زما شعرونه وائی چې په تال د پاسه زانګی

pukhto.net

## غزل

ستا یادونه چې شي زور د زړۀ په کور کښې
ارمانونه جوړ کړي شور د زړۀ په کور کښې

څنګ احساس به پکښې نۀ سوزي جانانه
چې بلېږي مې سور اور د زړۀ په کور کښې

ستا په زړۀ کښې زما نوم قدرې هم نشته
ما جوړکړے درله کور د زړۀ په کور کښې

په خله امن رورولي غواړي اغیاره
خو ساتي خیالونه نور د زړۀ په کور کښې

د یار غمه زۀ دې څومره قدردان یم
ګرځوم دې لور په لور د زړۀ په کور کښې

دا منم چې مسافر په بل وطن یم
خو ساتمه دې انځور د زړۀ په کور کښې

د زړۀ درد به ئې په څۀ باندې قلار شي
ثاقب نۀ لري ټکور د زړۀ په کور کښې

ځان که په مینه کښې ناکام یواځې نهٔ پرېږدمه
تا هم په خله کښې د الزام یواځې نهٔ پرېږدمه

هر یو قدم ورسره ږدمه په سکروټو باندې
د ژوند په لاره کښې ګلفام یواځې نهٔ پرېږدمه

د پښتنو داسې خیبر خوا نشته چې دا اوایې
دا زما قام دے زهٔ خپل قام یواځې نهٔ پرېږدمه

لالیه څو چې راته دا د هجر شپه یاده وی
بیا به دې چرته په ماښام یواځې نهٔ پرېږدمه

چې سترګې نهٔ توروې خال په تندی مهٔ لګوه
چې مقتدیان نهٔ وی امام یواځې نهٔ پرېږدمه

وخت په حالا تو سترګې سرې کړې نو حالاتو وئیل
بس دے ثاقب به په ارام یواځې نهٔ پرېږدمه

یو ګل د خپل ډنډر نه بېلېدمه چې راتلمه
په سترګو نهٔ په زړهٔ کښې ژړېدمه چې راتلمه

زهٔ هم په ټوله لاره ستا د یاد په مشغولا ووم
منم چې ستا به هم رایادېدمه چې راتلمه

چې ما ته را په یاد شي خوب مې وتښتي د سترګو
یو اوښکه په لېمو ئې څڅېدمه چې راتلمه

یارانو څهٔ به وایم بې وسي بده بلا ده
که نهٔ د چا په زړهٔ کښې اوسېدمه چې راتلمه

زما زړهٔ کښې تصویر د جانان داسې اواز اوکړو
یو ساه ووم ستا سینه کښې درزېدمه چې راتلمه

هغه زما ثاقب په جدائۍ خوشحاله نهٔ وه
زما په راتلو ډېره وه بې دمه چې راتلمه

ستا مینې کړو عادت د شوګیرو نهٔ اوده کیږي
نور زړهٔ مې ستا د یاد په دلاسو نهٔ اوده کیږي

دا ستا مئین دا ستا د انتظار ډېوې ته ناست دے
چې تا ورته وئیلی د راتلو نهٔ اوده کیږي

نور بس کړه د غفلت د خوبه پاسه رابېدار شه
پښتونه څوک خو دومره په مودو نهٔ اوده کیږي

دنیا ده څوک د زړهٔ د شور نه تنګ وی خوب ئې نهٔ وی
څوک داسې وی په شور کښې د بنګړو نهٔ اوده کیږي

همزولو ته ئې وې یو لېونے مې داسې شته دے
په خیال کښې مې تر نیمو نیمو شپو نهٔ اوده کیږي

ثاقب تمامه شپه تېروی ستا په تصور کښې
ثاقب لیکی شعرونه د پښتو نهٔ اوده کیږي

pukhto.net

مخې ته دې مه نيسه ائين خالونه مه وهه
ما به لېونے کړې په جبين خالونه مه وهه

تا باندې قدرت بلا پېرزو د حسن کړی ده
مه کوه د خپل حسن توهين خالونه مه وهه

لا خو مازيګر او د بام سر ته ساعت پاتې دے
وران به شی لا اوس په ماسپخين خالونه مه وهه

pukhto.net

تا له به خالونه د بلال د رنګه تور وهی
اے د جنت حورې ته رنګين خالونه مه وهه

مور ترې نن رانجه سلائی واخستل وئيل ئې چې
ورک به کړې د چا د زړهٔ تسکين خالونه مه وهه

ستا ګلابی مخ ته چې ثاقب د ورايه ګورمه
هسې راته ښکاری ګلورين خالونه مه وهه

خزان شو اوس موسم د بهار ځي دا ئې وخت دے
د اوښکو قافلې مې په رخسار ځي دا ئې وخت دے

دې کور نه اوازونه د ژړا راباندې لګي
د چا نه جوړې بيا مسافر يار ځي دا ئې وخت دے

قلم راپيدا کړے دے شعور په پښتنو کښې
اوس دور به د شر او د شاتار ځي دا ئې وخت دے

سبا له به ارمان کوي خو وخت به ترينه تېر وي
که څوک د نيک عمل په سمه لار ځي دا ئې وخت دے

منم چې بلا وه خو برکت ورسره نۀ وو
اوس خود به د دې خاورې نه اغيار ځي دا ئې وخت دے

همزولي ئې راټولې کړې ثاقبه مازيګر شو
لړۍ لړۍ ګودر ته په قطار ځي دا ئې وخت دے

پړقيږي ئې د دواړو سترګو توري چې راګوري
دا زړۀ مې په ښو ښو کښې زوري چې راګوري

د ورايه سپين رخسار ئې د سپوږمۍ په شانتې بريښي
خالونه پرې ځليږي لکه ستوري چې راګوري

اغيار جوړې زمونږه د تاريخ نه خبر نۀ دي
هم سپک ورته ښکاريږو هم کمزوري چې راګوري

د مينې، پت، وفا دليل ئې دغه ماله بس دے
په مخکښې د رقيب زما په لوري چې راګوري

په خوا کښې د چينې منګے په سر د چنار لاندې
لاهاغسې ولاړه ده په سيوري چې راګوري

زړګے مې اديره د ارمانونو ده ثاقبه
دا څوک ده او دا څۀ وريکښې ګوري چې راګوري

pukhto.net

چې ستا دیدن کښې مې ځائے پاتې نۀ شو
نور په وطن کښې مې ځائے پاتې نۀ شو

غمونه نور جانانه مه راکوه
په زړۀ غمژن کښې مې ځائے پاتې نۀ شو

ستا جدائۍ دومره داغونه راکړل
روغ په بدن کښې مې ځائے پاتې نۀ شو

د زړۀ بلبل به اوس په څۀ غولووم
چې په ګلشن کښې مې ځائے پاتې نۀ شو

رېباره یو تا ته مې سترګې دی بس
په بل یو تن کښې مې ځائے پاتې نۀ شو

ما ثاقب دومره اوښکې تویې کړې اشنا
وچ په لمن کښې مې ځائے پاتې نۀ شو

ukhto.net

وعدې لوظونه دې په نره سر ته ورسوه
مینه زما سره دلبره سر ته ورسوه

چې دې اقرار د محبت کړے زما سره وو
هغه اقرار دې د زړۀ سره سر ته ورسوه

زړه لېونیه ما وئیل تا به دروغ ګڼله
اوس دا غمونه زوروره سر ته ورسوه

دا ترقی د ایلم غر کړه خدایه سوال کوومه
دا پښتون قام ئې هغه بره سر ته ورسوه

منم چې توان د اورېدو راپکښې نشته اشنا
خو خبر دے ته خپله خبره سر ته ورسوه

ته به تر څو کوې جانانه په ثاقب ظلمونه
بس کړه ستم دې ستمګره سر ته ورسوه

## غزل

بـل خــوا کتــو تــه پکښــې نــهٔ جــوړیږم
نــورو هســتو تــه پکښــې نــهٔ جــوړیږم

ســتا د رخســار پــه کتابچــه مــې نظــر
بـل ځـهٔ لوسـتو تـه پکښـې نـهٔ جـوړیږم

زړګیــه نــوره پښــتو منمــه خــو
ســتا دې پښــتو تــه پکښــې نــهٔ جــوړیږم

لاتخیــل نــهٔ دے د زمکــې اوزګــار
بــره ختــو تــه پکښــې نــهٔ جــوړیږم

انســانه هــر ځــهٔ د خپــل رب نــه غــواړم
ســتا نــه غوښــتو تــه پکښــې نــهٔ جــوړیږم

لا د ارمــان لاس نیــوې ختمــې نــهٔ دی
بهــر وتــو تــه پکښــې نــهٔ جــوړیږم

غــم دې ثاقــب پــه ولــو بــار ګرځــووم
ســاه اخســتو تــه پکښــې نــهٔ جــوړیږم

pukhto.net

## غزل

نظر مې ستا د حسن پلوشو ځان سره یوړو
زړګے مې ستا لشو لشو باڼو ځان سره یوړو

قاتلې د عشق داسې اباسین ته دې ګوزار کړم
چې عقل او هوش دواړه مې چپو ځان سره یوړو

دا مړی به هم اوژاړی زما په حال ملګرو
داستان زما د ژوند که فرښتو ځان سره یوړو

د حشر په مېدان به ترې بیا غاړه خلاصه نۀ کړې
سالاره که دې حق د پښتنو ځان سره یوړو

pukhto.net

اوس خود به د فراق اوښکې زما په مخ بهیږی
وصال خو دې د هجر تورو شپو ځان سره یوړو

ناصحه لېونو ته چې په سپک نظر کتل کړې
کم عقله تول ثواب خو لېونو ځان سره یوړو

دا ستا هغه ثاقب جانانه ستا د غمه مړ دے
ارمان ئې په زړګی ستا د لېدو ځان سره یوړو

## غزل

وړی خوشحالی دې ده خفګان په زړۀ کښې پاتې دے
کور د محبت مې ځکه وران په زړۀ کښې پاتې دے

لاره د ژوندون چې دې جانانه بېله کړې ده
کله مې اوس هاغه اطمینان په زړۀ کښې پاتې دے

څومره چې ستم کوې کوه ئې هیڅ پرواه نشته
لاخو مې دلبره ورته توان په زړۀ کښې پاتې دے

تا ته به اغیاره د پښتون بدل پرې نۀ بږدمه
سوخت مې د لوګی لوګی افغان په زړۀ کښې پاتې دے

هر څۀ مې د زړۀ نه نور ویستلی دی ناصحه خو
بس خو یو تصویر مې د جانان په زړۀ کښې پاتې دے

سترګې مې مړې په دیدن نۀ دی سترګې مه اړوه
هغسې لا اور مې د هجران په زړۀ کښې پاتې دے

تا خو د ثاقب ګرېوان تار تار ریښې ریښې کړلو
نور دې لېونتوبه څۀ ارمان په زړۀ کښې پاتې دے

pukhto.net

که ستړې راته ځان کړي هر یو تن په دلاسو
خو کله خوشحالېږي زړهٔ غمژن په دلاسو

اخر به مې ملګرو دا زړهٔ ډک شي پړق به اوچوي
سحر په دلاسو دې ماسختن په دلاسو

په متهو د همت به تري خپل حق ګټلې کېږي
ګټلې د دښمن نه چا وطن په دلاسو

غریبه خدائې دې مل شه مونږ خو غږ کولې نهٔ شو
زمونږ خو لګېدلې دې قدغن په دلاسو

وعدې دې سبا نورې سبا ته ځهٔ له سپارې
تروږي رانه وختونه هر دیدن په دلاسو

ثاقب ستا په یادونو باندې ډېر زړهٔ دلاسه کړو
خو نور ئې نهٔ غولېږي زړهٔ مئین په دلاسو

pukhto.net

## غزل

دا څنګ چې ستا په ما ګمان دے داسې نۀ شی کېدے
بې وفا هسې دې زړۀ وران دے داسې نۀ شی کېدے

د صبر صبر اشنا مه وایه صبر یږمه نۀ
په تا مې کور د زړۀودان دے داسې نۀ شی کېدے

ګلرنګې خله به دې په څم څم هسې سترې شی نن
څنګه دې پرېږدمه باران دے داسې نۀ شی کېدے

دلـر او بـر د پښتنو تقسیم دې نـۀ منمه
دا یو وجود دے یو افغان دے داسې نۀ شی کېدے

ناصحه هسې به دې خله په نصیحت سترې شی
مینه مې ژوند مینه مې ځان دے داسې نۀ شی کېدے

په ما شکونه هسې تۀ د بې وفا مه کوه
زما خو سر درنه قربان دے داسې نۀ شی کېدے

ثاقب پښتون یمه پښتون خو په یوه پوهیږی
تا ته وئیلے مې جانان دے داسې نۀ شی کېدے

pukhto.net

## غزل

خبر دے که ډېر د وصال ترږے او نهر ولاړ دے
خو زړۀ مئین مې بل خوا نۀ ځی ستا په در ولاړ دے

د بېلتانه په دې پیکه تپږن ماحول کښې
ستا لېونے د خپله ځانه نا خبر ولاړ دے

امېد کوئ چرته د خدایه نا امېده نۀ شئ
د تورې شپې شا ته یارانو سپین سحر ولاړ دے

راځي به کله اے زما د هر یو ساه قاتله
ستا هر کلی ته مې ارمان د زړۀ په ور ولاړ دے

د هر دښمن مقابله ئې په غېرت کړی ده
هرې سختۍ ته زما قام لکه د غر ولاړ دے

هغه چې مونږه ګواه کړے وو په خپله مینه
هغه چنار هغسې اوس هم په ګودر ولاړ دے

نوم د وصال چرته کښې وانخلې ثاقبه په خله
توره په لاس جلاد د هجر دې په سر ولاړ دے

pukhto.net

## غزل

مه وایې ما ته د خندلو په ایمان که راځې
بې د خپل یار د مخ لیدلو په ایمان که راځې

غم زما مل دے خوشحالي راسره ورانه کړي
که ئې را بار کړمه په ولو په ایمان که راځې

د زړۀ په دشته مې خزان یارانو عمر له وي
موسم بهار موسم د ګلو په ایمان که راځې

په دې ارمان او انتظار به ګور ته لاړ شمه زۀ
وخت د پښتون د یو کېدلو په ایمان که راځې

زړګیه هیڅ باور مې نشته دے د یار په راتلو
هسې ئې اووې د راتللو په ایمان که راځې

جانانه تۀ ئې چې ارمان راځې هر وخت دې ماله
نور خو ارمان د ښکلو ښکلو په ایمان که راځې

ثاقب حیران یم اشنا تا څنګه هېر کړے یمه
ما له دې چل د هېرولو په ایمان که راځې

pukhto.net

## غزل

په زړه کښې دننه ارمانونه دي يو څو
سلګۍ دي ژړاګانې فريادونه دي يو څو

ما هم وو لوظ کړے چې به تول عمر له ستا يم
تا هم کړي زما سره لوظونه دي يو څو

دزړه نه مې دا ګرم اسويلې څکه راخيژي
دا اينښې پرې جانان راله داغونه دي يو څو

مزل کوه مزل حوصله مه بائيله پښتونه
منزل مو رانزدې دے قدمونه دي يو څو

ناصحه د خپل عشق سختې چې نورې بيان نۀ کړې
ما هم پکښې خوړلې تندکونه دي يو څو

وصال مې يو لحظه جانانه ستا موندلے نۀ دے
تېر کړي مې په هجر کښې کلونه دي يو څو

ستا غم لکه ژوره وينه څښې ستا د ثاقب نه
بس مرې د پاتې نۀ دے ساعتونه دي يو څو

pukhto.net

## غزل

ستا سترګې کړې شغلې ستا د نظر نه رڼا خيژي
ګلرنګ جانانه ستا د سپين بشر نه رڼا خيژي

زړګيه دا رڼا رڼا چې کيږي سپوږمۍ نۀ ده
دا هاغه ده د پورې بام د سر نه رڼا خيژي

منم توره تياره ده خوشي لار ده خو همت دے
موسی ته مخامخ د طور د غر نه رڼا خيژي

لوګی دی د بارودو دا لمبې د دهماکو دی
دا ځکه د کابل او پېښور نه رڼا خيژي

دا واړه کائينات يو زره نۀ ده ستا د حسن
دا ستا د حسن زور دے چې د نمر نه رڼا خيژي

محفل چې نن روښانه دے يارانو نظر اوکړئ
دا اوګورئ دا ناست دے د دلبر نه رڼا خيژي

اميد چې د ثاقب په زړۀ کښې بل کړو مشالونه
اوس خود به ئې د زړۀ د هر پرهر نه رڼا خيژي

pukhto.net

اوس که ژړا کړم که فریاد کړم څهٔ ترې نهٔ جوړیږی
هسې به خپل ژوندون برباد کړم څهٔ ترې نهٔ جوړیږی

د هجر شپه ده د وصال امېد مې نشته پکښې
بې وفا ډېر که دې رایاد کړم څهٔ ترې نهٔ جوړیږی

چې مې خپل ځان ګڼو هغه راله ځوانی خاورې کړه
بل به په چا لااعتماد کړم څهٔ ترې نهٔ جوړیږی

دغه یو کور مې وو د زړهٔ خو جانان اونړوو
که دوباره ئې اوس اباد کړم څهٔ ترې نهٔ جوړیږی

پټ په زړګی باندې ژور زخم لرم ناصحه
ښکاره که خلقو ته ځان ښاد کړم څهٔ ترې نهٔ جوړیږی

ثاقبه څهٔ ښکلې دوران وو یار پرې پوهه نهٔ کړم
اوس که دا خاورې په سر باد کړم څهٔ ترې نهٔ جوړیږی

نشته قرار هډو تپوس مه کوه
زما د خوار هډو تپوس مه کوه

بغیر له تا خومره مودې تیرې شوې
د هغې شمار هډو تپوس مه کوه

ناصحه ما د عشق مزل ته پرېږده
په نیمه لار هډو تپوس مه کوه

pukhto.net

سوات مې لوګې شو پېښور مې اوسو
د قندهار هډو تپوس مه کوه

دا ورځې شپې نمر او سپوږمۍ ګواه دي
د انتظار هډو تپوس مه کوه

ثاقب چې مړ شم ستا به خوا یخه شي
د زړۀ بیمار هډو تپوس مه کوه

## غزل

کور ئې د زړګی کړو راله وران د زړۀ نه نۀ اوځی
دا مې یو ارمان دے خو ارمان د زړۀ نه نۀ اوځی

زړه مې راډک شوے دے نور ځائے ورپکښې نشته دے
ځنګ خوشحالی راشی چې خفګان د زړۀ نه نۀ اوځی

هر کله چې وی دښمنه سترګې به دې اوباسی
دا تارخه وختونه د افغان د زړۀ نه نۀ اوځی

ما درته جانانه زندګی تول به لوګے کړله
هغسې لا ستا شک او ګمان د زړۀ نه نۀ اوځی

تا چې د ګودر په غاړه ما ته وې چې ستا یمه
هغه مازیګر مې په ایمان د زړۀ نه نۀ اوځی

هر حاکم د وخت راباندې خپل زور اوبه کړے دے
ځنګ به مو یارانو هیڅ سوران د زړۀ نه نۀ اوځی

نور دې خپل مازغه ناصحه مه خوره د ثاقب زړۀ ته
زړۀ به ترینه اوځی خو جانان د زړۀ نه نۀ اوځی

## غزل

تهٔ چې کړې ستم خلق ئې بد ګڼي
زهٔ خو ئې زغمم خلق ئې بد ګڼي

زهٔ یم چې مې غم ته غاړه ایښې ده
نهٔ قبلوی غم خلق ئې بد ګڼي

داسې یار وئیل دلته بیا مه راځه
دا زمونږ د چم خلق ئې بد ګڼي

هر سړی تهوپک لاس کښې نیولے دے
نهٔ اخلی قلم خلق ئې بد ګڼي

مخکښې مې په مینه خلقو بد وئیل
اوس چې دې پرېږدم خلق ئې بد ګڼي

خدایه دا لاڅنګ عجیبه دور دے
هر چرته چې ځم خلق ئې بد ګڼي

اے ثاقبه څوک ئې قدر نهٔ کوی
زړهٔ که دے حرم خلق ئې بد ګڼي

pukhto.net

## غزل

ظالم خزان دے دېره شوے د بهار مخې ته
ما ته ئې تول عمر ايښودے انتظار مخې ته

دا چې په هر قدم پرېوځم تند کونه خورمه
دا خو راځي د عشق په لار کښې خنډ و خار مخې ته

زۀ يو پښتون يمه ما مينه د پښتو کړې ده
اوس به وا نۀ ورمه که راشي پکښې دار مخې ته

ګلرنګې وايه په دې حال کښې به خوب څنګه راشي
چې راته سيورے کېږي ستا رخسار مخې ته

کوم يو ستم وو چې په مونږه پښتنو او نۀ شو
خو لا سرونه مو ټيټ نۀ کړل د اغيار مخې ته

نۀ د قاصد په عرضي اوشوه نۀ د چم په جرګو
اوس به په خپله باندې ځمه د خپل يار مخې ته

منزل به بيا مومې مزل دې خپل جاري اوساته
ثاقبه خېر دے که پرته ده ډېره لار مخې ته

pukhto.net

## غزل

زړۀ زما بلبل دے خو د ګل نه لرې اوسی
ستړے په مزل شو د منزل نه لرې اوسی

ستا لېونے خود به په غرمو د هجر سوزی
سپورے نشته تل دې د اوربل نه لرې اوسی

څنګه په ارام او بې غمۍ خوبونه اوکړم
سر مې محبوبې ستا د څنګل نه لرې اوسی

څومره پښتانه په شته وطن کښې مسافر دی
څومره پښتانه مو د کابل نه لرې اوسی

مه وايه ناصحه چې خپل زړۀ دې په قابو کړه
زړۀ د لېونو خو د کوګل نه لری اوسی

نصیبه د وصال په زور بېلتون له ماتې ورکړو
دوۀ مئین تر څو به د یو بل نه لری اوسی

څوک چې د ادبو په محفل کښې پاتې نۀ وی
خود به اے ثاقبه د غزل نه لری اوسی

پـــه لار بـــه غورځېـــدم او پاڅېـــدم ورســـېدم
پـــه ډېـــرو ســـختو ځنـــګ لـــه د صـــنم ورســـېدم

ازغـــو راســـره خپلـــې چـــارې اوکـــړې خـــو ملګـــرو
اخـــر تـــرې د زړۀ کـــور تـــه د ګلفـــم ورســـېدم

پـــه ناســـته بانـــدې نـــۀ کيـــږی د خلـــې خبـــرې نـــۀ دی
ناصـــحه تـــۀ خـــو نـــۀ تلـــې زۀ چـــې تلـــم ورســـېدم

ســـر نـــۀ کړلـــه رقيـــب يـــوه غونـــډی پـــه منـــډو منـــډو
زۀ ســـر تـــه پـــه خرپوســـو د ايلـــم ورســـېدم

تيـــارې وې تندکونـــه هـــيڅ مـــې نـــۀ ليـــدل جانانـــه
مـــا ســـتا پـــه قـــدم کېښـــودو قـــدم ورســـېدم

مـــنم ســـتړی مزلـــو خـــو ثاقـــب لـــه برمـــه پريســـتم
پـــرواه نشـــته يـــارانو اوس کـــه مـــرم ورســـېدم

## غزل

هجر دې سوے یم په خوا کښې مې د ځان اودروه
چې شم په سیوری چتر چتر دې زلفان اودروه

د زړه چمن ئې بې نیتې تا له ترغه کړو راله
سپرلیه راشه دا بادونه د خزان اودروه

د بام په سر لکه د نمر رخسار ښکاره کړه ګلې
زما په مخ د ترمو اوښکو دا باران اودروه

زمونږ د تولو پښتنو په خله دعا دغه ده
خدایه د امن یو بیرغ په ټول افغان اودروه

pukhto.net

خبر که هر څو ازغنه لار ده خو را لاندې به شی
د ژوند په لار راته نصیبه لږ جانان اودروه

تا چې څنګ اوکړه داسې هیڅ څوک به اونهٔ کړی اشنا
چرته انسان ته خو تهٔ مخې ته انسان اودروه

ثاقب چې داسې ارمانی ستا د وصال لاړمه
زما په قبر باندې ځلے د ارمان اودروه

## غزل

چې بې له تا خبره خلې له راځی
څنګه به دا خبره خلې له راځی

تندے دې څکه اشنا کُوت نیولے
رینښتیا رینښتیا خبره خلې له راځی

وایم خبره د بل چا کوومه
جانانه ستا خبره خلې له راځی

زۀ پښتانه په سرحد نۀ یادووم
د پښتونخوا خبره خلې له راځی

بیا ترینه مخکښې اسویلی شروع شو
بیا وار خطا خبره خلې له راځی

وایم اقرار کووم چې یار اووینم
کله مې بیا خبره خلې له راځی

ثاقب به توري خاورې شوے یمه
چې دې صفا خبره خلې له راځی

pukhto.net

وی خفـــــه درپســـــې ژاړی
زمــــا زړۀ درپســــې ژاړی

تــه پــه خپـل لېـونی څـۀ کـړې
خـــو هغـــه درپســـې ژاړی

اے لــــوګی لــــوګی کابلــــه
پښــــتانه درپســــې ژاړی

مســــافر لالیــــه راشــــه
لــــوئے واړه درپســــې ژاړی

تــه دخپــل مئــین د خــوا نــه
مــه ځــه مــه درپســې ژاړی

د ثاقــب نظــر دې کــم کــړو
ټولــــه شـــپه درپســـې ژاړی

## غزل

چرته کار چې د ثواب راباندې راشي
مونږ ئې نه کوو عذاب راباندې راشي

وايو دا مشر ښه نه دے بل به ښه وی
د هغه نه بل خراب راباندې راشي

دا وطن زمونږ په دې اميد ژوندے دے
چې يو ځل به انقلاب راباندې راشي

کله ډېره شی سوکړه سوال د باران کړو
چې باران او شی سېلاب راباندې راشي

مشران زمونږ له دې وجې خاموش دی
هسې نه چې احتساب راباندې راشي

ټوپک اخلو خو په هغه وخت غربت شی
اخستل چې د کتاب راباندې راشي

مونږ څه کړی مونږ به څه وايو ثاقبه
که د دغې سوال جواب راباندې راشي

pukhto.net

چا ته بیان کړمه د خوږ زړه د دردونو قیصه
څوک به مې واوري د سلگو او فریادونو قیصه

گلرنگې زړۀ به دې پرق اوچوي درې وړې به شي
که درته ما اوکړه د هجر د وختونو قیصه

د نمرود لوئې بادشاهۍ ته تۀ حیران ولې ئې
لکه خلیل زده کړه د ډېرو تکلیفونو قیصه

pukhto.net

اغیاره اوکړه د تاریخ په کتابونو نظر
پکښې پرته مې ده د قام د غېرتونو قیصه

دا صفا نیت غواړي په خله باندې کېدلې نۀ شي
ناصحه مه کوه عبث د جنتونو قیصه

ثاقب به مړ یم خو یو ځل به په محفل کښې واورې
زما دزړه د زاره چاودي ارمانونو قیصه

ارزو ستا د راتلو مې په زړګی د اختر پاتې شوه
ته پاتې شوې رانغلې خوشحالی د اختر پاتې شوه

راځه چې په مودو پس نظرونه سره یو کړو نن
په مونږ خو دا یوه مهربانی د اختر پاتې شوه

بابا مې نن په خپله بې وسی ژړل وئیل ئې چې
افسوس دا ځل زمونږ نه قربانی د اختر پاتې شوه

په تېر اختر دې کړې وه وعده چې زۀ به درشمه
لا تا ته خو اوس هم امبارکی د اختر پاتې شوه

نۀ بڼ شته نۀ ټالونه نۀ د پېغلو اتڼونه
خالونه اوس څوک نۀ ږدی رنګینی د اختر پاتې شوه

حجره وه مشران به وو قیصې به وې مزې به وې
ثاقبه اوس خو هاغه سادګی د اختر پاتې شوه

چې ګلفام راته را ياد شي
هغه بام راته را ياد شي

زۀ چې ستا سترګو ته ګورم
قتل عام راته را ياد شي
د يار رټ رټ جوابونه
خپل ناکام راته را ياد شي
ستا په سر د هر وګړي
هر الزام راته را ياد شي
چې د ستونزو ذکر را شي
پښتون قام راته را ياد شي
چې دې زلفې راخورې شي
ګلې دام راته را ياد شي
هغه پټ پټ په محفل کښې
ستا سلام راته را ياد شي

که سحر ئې ثاقب هېر کړم
خو ماښام راته را ياد شي

## غزل

د نفرتونو پکښې نشته شور بیخې خوشے دے
لالیه تا ته مې د زړۀ دا کور بیخې خوشے دے

جانانه دلته رقیبان دی په دې لور مه راځه
په هاغه لورې راشه هاغه لور بیخې خوشے دے

د خان بچې به ژړا څه اوکړی ماړه اوده دی
د ګاونډی بچی ئې ژاړی شکور بیخې خوشے دے

ما وئیل خپل حسن دې ډېر دے سینګار څۀ له کوې
وې په جبین کښې مې خال نشته تور بیخې خوشے دے

په بلې راغلے وې ئې مور مې وائی اوړه ترې راوړه
مونږه ډوډې خپلې پخې کړی اور بیخې خوشے دے

بغیر لتا پکښې ثاقبه نور څوک نۀ پرېږدمه
د زړۀ حرم کښې مې یو ته ئې نور بیخې خوشے دے

## غزل

د شپې چې د اسمان نه راته ګورې ګواهان دي
زما په شوګیرو جانانه ستورې ګواهان دي

زۀ چا لیدلے نۀ یم په خپل یار پسې چې تلمه
خو خاپې مې د خپو دې نخاس خورې ګواهان دي

منم دهقان په حقه دے خو ځوک ورسره نشته
د خان په حق کښې ګوره په هر لورې ګواهان دي

نن شل ځله پرې تلے یم راغلے یم ګلرنګې
په لاره د ګودر د ونو سیورې ګواهان دي

د حشر په میدان که شي منکر په خپلو بدو
دا لاس او خپې دې ولې څه کمزورې ګواهان دي

همزولو ته ئې وې ثاقب په ما باندې مئین دے
په دې خو د ثاقب د غزل تورې ګواهان دي

## غزل

که زړۀ مې د هجران د سرو اورونو لاندې پروت دے
خو ژوند مې د وصال د امیدونو لاندې پروت دے

په زنه دې تور خال زما نه غوره دے جانانه
مزې ئې دی د شونډو د سرونو لاندې پروت دے

دنیا کښې چې کامیاب یم دا دعا زما د پلار ده
جنت زما د مور د قدمونو لاندې پروت دے

زما مرګ ته دې ځان منزرے کړے دے سالاره
وطن دې د اغیارو د لاسونو لاندې پروت دے

یارانو دغه قبر تش د خاورو ځلے نۀ دے
په دې کښې مې قاتل د ارمانونو لاندې پروت دے

ثاقب درته اظهار د محبت کولے نۀ شم
یو درد دے چې د زړۀ د پرهرونو لاندې پروت دے

## غزل

پـه لمسـه چـې رقیـب زمـا د خـوا نـه تـورولې
تـور نـۀ شـوې کـه ئـې هـر څـومره زمـا نـه تـورولې

زۀ خـود بـه سـتا د سـترګو پـه خمـار مئیندمـه
چـې داسـې ډوبـې ډوبـې دې جانانـه تـورولې

ټوپک ئې درله درکړو پوهه نۀ شولې بدنام شوې
اغیـار پـه دغـه تـور بانـدې افغانـه تـورولې

بارود وو شر پسند وو دهماکې وې سرې لمبې وې
اے سـواته پـه لوګـو ئـې تـر اسـمانه تـورولې

وره وې چـل دې زده نـۀ وو د اور د بلولـو
ډوډۍ بـه تنـور کلـه سـتا نـه تـورولې

غـزل کښـې دې زمـا حسـن ثاقبـه راځـائے نـۀ کـړو
کـه ډېـرې سـپینې پـاڼې دې نادانـه تـورولې

# نظمونه



## زما مور

pukhto.net

تهٔ زما دزړهٔ قرار ئې تهٔ زما د سترګو تور ئې
ستا نه زار ستا نه لوګے شم خوږې مورې تهٔ مې مور يې

بې لتا نه زما مورې زما کور کنډر کنډر وی
چې په تا مې سترګې لګی هغه ورځ په ما اختر وی
ستا په عمر برکت شه تهٔ ښائست زما کور ئې

تــا د ژمــی یخــې شــپې بــه مــا د پــاره رونــولې
تــهٔ خنــدا مــې خنــدولې تــهٔ ژړا مــې ژړولــې
د سر سیورې مې په ژوند ئې تهٔ زما په ژوند راخور ئې

چې زلمے شـوم عقـل راغـے تېـر وختونـه راتـه یـاد شـو
سـتا د خُلـې خـوږې قیصـې او ماښـامونه راتـه یـاد شـو
زهٔ خو ستا د لاسه ښاد یم تهٔ سکون مې په هر لور ئې

خېـر پـه مـا پسـې کـه ډېـرې ارزوګـانې راپسـې دی
دا بـه ټـولې خـدائے پـوره کـړی دعاګـانې راپسـې دی
تـهٔ د هـر زخـم دوائـې تـهٔ دهـر یـو درد ټکـور ئـې

دا مـې لـوظ درسـره د ے ثاقـب سـتا سـره وعـده کـړم
چې مې ساه وی په وجود کښې تا به چرته خفه نهٔ کړم
سـتا خـدمت خـو عبـادت د ے تـهٔ رښـا زمـا د ګـور ئـې

ستا نه زار ستا نه لو ګے شم خوږې مورې تهٔ مې مور ئې

دا نظم د ګران ملګري لیاقت علی صېب د احساساتو ترجماني ده.

# ګیله

یوه ګیله د خپل زړګی نه راویستل غواړمه
ددې وطن د واکدارانو نه تپوس کوومه

چې یو انسان خدائے پېدا کړے یم په دې دنیا کښې
په دې دنیا د اوسېدلو حق لرمه کنه
بل مسلمان یمه اسلام خپل دین مذهب ګڼمه
زهٔ د خپل دین خدمت کولو حق لرمه کنه
دریمه دا ده یو پښتون یم د پښتون بچے یم
د خپلې خاورې بېچ ساتلو حق لرمه کنه
دا درې حقوق به دې وطن کښې ما له څوک راکوي
زهٔ د دې خپلو مشرانو نه تپوس کوومه

مونږ پښتانه د احمد شاه او د میرویس بچي یو
زمونږ خوشحال زمونږ غني زمونږ رحمان یادیږي
زمونږ ایمل زمونږ اجمل او خان شهید به منې
زمونږ تاریخ کښې باچا خان فخر افغان یادیږي
دغه زمونږه مشران وو رهبران وو زمونږ
چې لا تر اوسه په نړۍ کښې قدردان یادیږي

اوس داسې څوک دی چې زمونږه لار ښودنه اوکړی
د موجودوو رهبرانو نه تپوس کؤومه

د نړۍ ټول قامونه مخ په ترقۍ روان دی
مونږ هغه قام یو چې تر اوسه په تیارو کښې اوسو
د امن نوم اورو خو امن مو لیدلے نۀ دے
په دهماکوکښې، د بارودو په لوګو کښې اوسو
د خدائے د پاره لږ شان غور اوکړئ فکر اوکړئ
مونږ به ترکومه ډوب د خپل وجود خولو کښې اوسو
د سکون ساه به چرته واخلو کنه داسې به مرو
زۀ د ضمیر د قاتلانو نه تپوس کؤومه

زۀ د سر سیورې پکښې نۀ مومم د لوږې مرمه
کنه د هر قسمه باغونو ډک وطن دے زما
زما د تندې نه مرۍ وچه ده حلق مې وچ دے
ډېر د ښائسته ښائسته سیندونو ډک وطن دے زما
ثاقب د ژوند د تېرولو هیڅ اسباب نۀ لرم
دزمرودو د کانونو ډک وطن دے زما

چې هر څۀ ستاسو دی نو مونږ څوک یو د کوم وطن یو
په خزانه ناست خامارانو نه تپوس کؤومه

# د اروابښاد اجمل خټک بابا په یاد کښې

د سرتاج وو د سرګل وو خو اجل وو مرګی یوړو
ننګ نه ډک بابا اجمل وو خو اجل وو مرګی یوړو

که صورت وو که سیرت وو که ژړا وه که خندا وه
أ که پت وو که غیرت وو که وفا وه که ښکلا وه
ښهٔ په هر څهٔ مکمل وو خو اجل وو مرګی یوړو

یا خو دے د ګل په شان وو یا خو ګل د دۀ په شان وو
یو ملنګ غوندې انسان وو ښائسته پرې پاکستان وو
هم ښائست مو د کابل وو خو اجل وو مرګی یوړو

د قدرت یو کرشمه وه عجیبه وو عجوبه وه
که جمات وو ، که حجره وه ،که جلسه وه ، که جرګه وه
یو مشال د هر محفل وو خو اجل وو مرګی یوړو

دے عادت د جیلخانو وو دے عادت د زولنو وو
دے لیډر د پښتنو وو دے رهبر د پښتنو وو
په هر حال کښې دقام مل وو خو اجل وو مرګی یوړو

که په تن لباس بادشاه وو خو په زړه ئې فقیری وه
اے ثاقبه حقیقت دے شاعری ئې شاعری وه
هم ټپه وه هم غزل وو خو اجل وو مرګی یوړو

تنګ نه ډک بابا اجمل وو خو اجل وو مرګی یوړو



# د پښتو ژبه

وئیلو کښې پښتو هم په لیکلو کښې پښتو
مزه ده ستا د نوم په اخستلو کښې پښتو

زمونږه مشرانو به بې شمېره یادولې
پخوا به په حجرو کښې خلقو ډېره یادولې
افسوس اوس دې ځائې نشته په محفلو کښې پښتو

زما چې ځومره عقل دے او ځومره زۀ پوهېږم
تاریخ ته چې دې ګورم دې یو ټکي ته رسېږم
لوئے لاس دے د شاعر ستا په ساتلو کښې پښتو

د خپله لاسه مونږه سپکه کړی ئې په خپله
په ښار کښې خو ښاریانو ورکه کړی ئې په خپله
خو شکر دے ژوندی ئې لا په کلو کښې پښتو

زمونږ د پښتنو ژبه به څۀ ترقي اوکړی
یارانو د پښتو ژبه به څۀ ترقي اوکړی
چې مونږ په خپله نۀوایو په خپلو کښې پښتو

د خیال نه که بهر شي او د زړونو نه بهر شي
که هر ځومره د خلقو د ذهنونو نه بهر شي
ثاقب خو به دې ستائي په غزلو کښې پښتو

pukhto.net

# امن

چې مو راکاړی د لاسونو نه لمن د امن
مونږه په دار خېژول غواړو دا دښمن د امن

څوک چې زمونږه په وطن کښې بد امنی جوړوی
زمونږ د رونړو رونړو مینځ کښې دښمنی جو ړوی
دغه اغیار زرې زرې شه په مېچن د امن

مونږ پښتانه یو مونږ د امن پاسداری پېژنو
په هر حالت کښې د وطن طرفداری پېژنو
مونږه اوچت غواړو بیرغ په ټول وطن د امن

مونږه جنګ نۀ خوښوو امن رورولی خوښوو
په ټوپک نۀ خوپه قلم باندې سیالی خوښوو
دلته ژوندون تېرول غواړو هر یو تن د امن

لکه د شپول به ترې خپل ځان راتاوهو ثاقبه
د زړه په وینو اوبه خور به ئې کوو ثاقبه
تل به تازه ساتو اباد ساتو ګلشن د امن
مونږه په دار خېژول غواړو دا دښمن د امن

pukhto.net

# د سوات حالات

هر ماسختُن د غم نه ډک دے هر سحر د غم دے
هره کوڅهٔ په وینو سره ده هر منظر د غم دے

موسم خزان دے هواګانې د سپرلی نۀ وینم
اوس سور ګلاب، غاټول، رېحان او کشمالی نۀ وینم
د بلبلانو د یو بل سره سیالی نۀ وینم
چا ته چې ګورمه په مخ ئې خوشحالی نۀ وینم

حالا تو کړے په هر چا باندې اثر د غم دے
چې څوک پوښتي نو بس د لاسه کور و کر د غم دے

خندا مو ورکه ده د هر کور نه ويرونه خيژی
قلارے نشته د توپونو اوازونه خيژی
خوب به موخنګ اوشی چې دارنګې ډزونه خيژی
د يو يو ډز سره خالص د خلقو زړونه خيژی

الله دې خير کړی دا ماحول خو سرا سر د غم دے
وړے ئې نۀ شو داسې پيتے راپسر دغم دے

څوک د ملبو نه د لا شونو په ويستو ستړی شو
څوک مقبرو کښې په قبرونو کنستو ستړی شو
څوک جنازو ته د نيتونو په لوستو ستړی شو
خو هغه کله د مارتړو په ويشتو ستړی شو

ورځ د اختر ده خو په مونږ باندې اختر د غم دے
د خوشحالۍ په ځائے په مونږ باندې نظردغم دے

يو وئ» حيران يم چې دا ولې په رکشه کښې مړ دے
بل وئ کرفيو نه خبر نۀ وو په دهوکه کښې مړ دے

څوک وئ هیڅ پته راته نشته چې په څهٔ کښې مړ دے
څوک وئ فلانے دې پېژندو په دهماکه کښې مړ دے

د خوشحالۍ خبره نشته هر خبر د غم دے
ځکه خو زړه زما غوڅ شوے په خنجر د غم دے

د خدائے په کړو فیصلو خو لاس د چا نهٔ رسی
خو دا به نهٔ وایو چې بره مودعا نهٔ رسی
هله ګناه نهٔ کړو چې لاس مو د ګناه نهٔ رسی
مونږ ګهنګار یو ، ولې مونږ ته به سزا نهٔ رسی

ثاقبه مونږ په خپله کړے ځان له کر د غم دے
اوس به ئې ریبو فصل شوے برابر د غم دے

» وائی

pukhto.net

# قطعات

زۀ په الوت ووم د اسمانه دې راپرېويستمه
په ښکار مئينې سوچ دې څه کؤو د دام په وخت کښې
خمارې سترګې او خرمه خرمه نازکې شونډې
زۀ روژه دار په کلی راغلم د ماښام په وخت کښې

د زلفو جال دې پرې راخور کړه چې دا زور ئې کم شی
د مخ شغلې دې هسې نۀ چې ائينه ما ته کړی
د خپل جانان د شونډو خوند په سړی داسې لګی
لکه روژه چې روژه دار په ګبينه ماته کړی

زما نصيب کښې خوشحالی نشته دے
چرته چې غم وی په ما خوار پېښېږی
دا څۀ سبب دے يار چې هر چرته ځی
زما په هغه ځائے کښې کار پېښېږی

چرته چې چا رانه تپوس کړے د ښکلو په باب
په زړۀ مې تۀ وې د بل چا مې صفت کړے نۀ دے
د مخ کتاب دې زر زما ثاقب نه مه بندوه
سبق مې اووې خو لا سم مې زوت کړے نۀ دے

دا زۀ چې د یوې ورځې نه بلې ته توريږم
زړۀ ته مې لمبه د عاشقۍ راکوزه شوې ده
ثاقبه چې مسکۍ شوه سپین رخسار ئې په ځلا شو
ما وې جوړې زمکې ته سپوږمۍ راکوزه شوې ده

عدالت لره چې ورشې بیا د جج فیصله ګوره
چې څوک ساز وی هغه غل کړی چې څوک غل وی نو معاف دے
پښتنو روښو راپاسئ مخ نیوے د دوئ پکار دے
دا لا څه رنګه قانون دے دا لا څه رنګه انصاف دے

ښکاریږی ئې رخسار راته نور هیڅ په نظر نهٔ راځی
ورځ ده خو د زلفو نه دلبر شپه جوړه کړی ده
سترګې تورې خال په جبین سره ئې په نکریزه لاس
نن خو ئې ترې سمه د اختر شپه جوړه کړی ده

هسې په چغو باندې هیڅ نهٔ کیږی
هرې خبرې له عمل پکار دے
که مو مقصد وی رسېدل منزل ته
په ناسته نهٔ کیږی مزل پکار دے

څوک د خیالونو په تالونو ځانګی
څوک د خپل یار د زلفو ولونه سپړی
ما ته خو ستا رخسار ښکاریږی داسې
لکه سپرلے چې سره ګلونه سپړی

پښتنو رونو ځان ځانی ده زمونږ
لاس د يو والی مو ورکړے نۀ دے
مونږه به يؤ يو زمونږ حق به اوخوری
مور خو لا داسې زوے راوړے نۀ دے

په کور کښې چې يو رور د بل رور مرګ پسې ګوابښيږی
د داسې ضد ، پښتو او داسې ننګ په حق کښې نۀ يم
زما نۀ کۀ پوښتنه څوک د جنګ په حقله اوکړی
د سترګو جنګ مې خوښ وی د بل جنګ په حق کښې نۀ يم

زمونږ د جيب نه څه روپۍ پری نۀ ځی
زمونږ خو تش د لاس او خپو خدمت دے
چې په پښتو ژبه غزل وليکو
ملګرو دا هم د پښتو خدمت دے

زړګیـــه ســـوزه خـــو لمبـــه مـــه کـــوه
هســـې نـــهٔ اور درنـــه احســـاس واخلـــی
د خپـــل ثاقـــب کـــه دې او نـــهٔ منلـــه
نـــو زنـــدګی بـــه درنـــه لاس واخلـــی

د غربـت سـيلۍ شـوه تېـزه پـه وطـن کښـې
چې شـاکر، سنګین، رېحـان ئې رانـه يـوړو
لامـې زړهٔ ثاقبـه نـهٔ ؤو پـه ځـائې شـوے
چـې سـاتر او هـم امـان ئـې رانـه يـوړو

pukhto.net

لکـه د مـچ منګـولې مـروړو هـيڅ پـه لاس نـهٔ راځـی
مـونږه پـه خپلـه د خپـل ځـان ګرېـوان تـه لاس واچـول
چـې مـونږه وينښ وو اودهٔ نـهٔ وو نـو بيـا څـه وجـه وه
چـې مـو اغيـارو د افغـان ګرېـوان تـه لاس واچـول